د افغانستان اسلامي دولت

د لوړو زده کړو وزارت

الفلاح د لوړو زده کړو مؤسسه

انجنيري پوهنځی

# ديپلوم ددفاع کتاب

موضوع: په باميان ولايت کی د مرکز نه تر شيبر کنډو پوری د سرک طرحه اوډيزاين

دټول سرک طول ( 20km )

ډيزاين شوی برخه (4.5km)

Ketabton.com

## ترتيب کوونکي:

1. عبدالحق (مبارز)
2. بشرمل (نيازي)
3. اورنګزيب(سليمزی)
4. صبغت الله(الکوزی)
5. محمد حارث (نثار)

کال: 2016/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال ۱۳۹۴ ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مونوګراف لیکونکي:

**عبدالحق( مبارز) دګل زمان زوي (دهندسی اجزاو ډیزاین،ساختمانی مواد، سرک جوړونه) پرمخ وړونکی**

**بشرمل دشیرعلی زوي (دټیسټونه،طبقاتوډیزاین،مکس ډیزاین) پرمخ وړونکی**

**صبغت الله د شهنواز خان زوی(دسرک په مسیر کی ساختمانونه،،بی خطره تخنیک)پرمخ وړونکی**

**اورنګزیب دمحصل زوی (دعمومی معلومات،سروی، ماشینری،ترافیکی نښې)پرمخ وړونکی**

**محمد حارث محمدولی د(براورد ،اورګنایزیشن)پرمخ وړونکی**

## لارښود استادان:

| | |
|---|---|
| **انجنیر ضیاءالدین ضیاء** | **دسرک د ډیزاین د برخې لارښود** |
| **انجنیر محمد یعقوب** | **د هندسی ډیزاین د برخې لارښود** |
| **انجنیر طارق رحیم رحیمي** | **د برآورد لارښود** |
| **انجنیر سید عمران سادات** | **د ساختماني اداري لارښود** |
| **عمومي کنترولوونکی:** | **انجنیر سید مصطفی هدایت** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپارښتلیک

**محترمو هر یو (عبدالحق) د (ګل زمان) ځوی ،بشرمل) د (شیرعلی) ځوی،(اورنګزیب) د (محصل) زوی(صبغت الله) د(شهنواز ) ځوی(محمد حارث) د (محمد ولی) ځوی د مونوګراف لیکنی په هکله سپارښتنه:**

**پورته ذکر شوو محصیلینو ته د(دسرک طرحه او ډیزاین ) ترعنوان لاندې چی د سیول دیپارتمنت لخوا ورکړ شوی د مونوګراف موضوع چې په (۲۷۵ ) تشریحي پاڼو او (۱۱) ګرافیکي لستونو کې یې کار کړې دی چی عمومی معلومات ،سروی،دسرک هندسی ډیزاین ،دسرک دطبقاتوډیزاین ،سرک ساختمانونه ،هایدرولوژیکی محاسبات، ، د کانکریټ اچونی د تکنالوژۍ محاسبات، ماشین الات ،ترفیکی نښیی،مالی او براوردی محاسبات، د وخت پلانګذاری او د بی خطره تخنیک او د تولید په پروسه کې د مصونیت ایجادول په بر کې نیسی، چی د هرې برخې د کار کولو په وخت کې نوموړو محصلینو د محترمو لارښود استادانو د مشورو څخه یې پوره استفاده کړې.**
**پورته نومول شوی محصلین پخپله تحصیلی دوره کې د نیکو اخلاقو خاوندان وو او هم د خپلو استادانو او هم صنفیانو سره ئې نیک برخورد درلود . نو زه د لارښود استاد په حیث د نوموړو کارونه مثبت ارزیابي کوم او د دیپلوم د دفاع د محترم کمیسیون څخه په درناوي هیله کوم چې د نوموړو کارونه عالی ارزیابي کړي او د سیول په څانګه کې د انجینر لقب ورکړي .**

**په درناوي**

**انجنیر محمد یعقوب................... ........**

**عمومی لارښود استاد...........................**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېرژی په هکله عمومی معلومات ........................................................ 11
طبيعي جوړښت........................................................................................ 11
دباميان ولايت اقليم.................................................................................. 11
د سړک اقتصادي فعاليتونه دوه مهم فکتورنه لري......................................... 12
د حمل او نقل بيلا بيل شکلونه ..................................................................... 15
د سړکونو په ذريعه د انتقالاتو خصوصيات..................................................... 16
History of road development .......................................................................... 16
Roman Roads.......................................................................................................... 17
تيلفورد سړک جوړول Telford’s Road Construction.......................................... 19
ماکدام سړک جوړونه Macadam Construction Road........................................ 19
« د ميکادم د سړک جوړولو ميتود » ............................................................... 20
د تيلفورد د سړک جوړولو ميتود ................................................................... 20
اساسی تعريفات ........................................................................................ 20
د سړکونو ډولونه Types of Roads.................................................................... 21
ښاری سړکونه Urban Roads.......................................................................... 24
د سړکونو پلانګذاری Highway Planning.......................................................... 24
« د سړکونو د پلان ګذاری ضرورت »................................................................. 24
د سړکونو انواع : Classification of Roads .......................................................... 25
د اسفالټ کانکريټ فرش نواقص: ..................................................................... 29
۱.اپتدايی پوښښ ياساده پوښښ: ........................................................................ 30
دنقشی مطالعهMap study................................................................................ 35
دسړک دمسير سروې.................................................................................... 36
دسړک طولی او عرضی (پروفيل) سروې ........................................................... 36
High way Alignment survey................................................................................. 38
دتفتيش سروی ......................................................................................... 40
دنهاي موقعيت سروي..................................................................................... 41
اول اقتصادی مطالعات..................................................................................... 42
دوهم مالی مطالعات........................................................................................ 42
دريم ترافيکی مطالعات .................................................................................. 42

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورم انجینرۍ مطالعات ........................................................................ 43
د ترافیکو پیش بیني Projection of Traffic ........................................................ 44
موجوده او جذب شوي ترافیک ................................................................ 45
د ترافیکو طبعي رشد .................................................................... 45
د ترافیکو وسعت : Development of Traffic ........................................................ 45
Alignment PI Station Report ........................................................................ 46
دریم فصل .............................................................................. 52
د سړک د هندسي اجزاؤ ډیزاین Highway Geometric Design ........................................................ 52
عمومیات: .............................................................................. 52
Design Speed ........................................................................ 53
د وسایطو فزیکي طرح Design Vehicle ........................................................ 53
د ساحې توپوګرافي ........................................................................ 53
ترافیک حجم په فې ساعت کې Design Hourly Velum ........................................................ 53
محیط شرایط .............................................................................. 53
اصطکاک Friction ........................................................................ 54
هغه فکتورونه چې په اصطکاک باندې اغیز لري ................................................................ 54
د فرش طبې ناهموار والی: Pavement Unevenness ........................................................ 54
عرضي میلان Cross Slopor camber ........................................................ 55
د سرک د مختلفو مقطعو لپاره د کمبر سفارش شوي قیمتونه ................................................................ 56
په ساحه کې د عرضاني میل امتحانول ................................................................ 56
د سرک عرض (width of Roadway) ........................................................ 56
د سرک شانې(Shoulders) ........................................................................ 57
د سرک لار پلنوالی Width of Roadway ........................................................ 57
د سرک حدود (Right of way) or Road land ........................................................ 58
کرب (Kerb) ........................................................................ 59
۱- Low or Mountable Kerb: ........................................................ 60
۲- متوسط کرب Medium Kerb: ........................................................ 60
لوړ کرب High Kerb: ........................................................ 60
د سوپر الیوشین تحلیل Analysis of Super elevation ........................................................ 60

(c) ketabton.com: The Digital Library


Maximum Super Elevation ........ 61
ترتولو کم سوپر ایلویشن Minimum Super Elevation ........ 61
د سوپر ایلویشن ډیزاین Design of Super elevation ........ 61
د ډیزاین مجاز سرعت: ........ 62
د فرار المرکز قوه ........ 63
د دید ساحه (Sight Distance) ........ 63
د توقف د دید فاصله Stopping Sight Distance ........ 64
د توقف د فاصلې تحلیل د Stopping DistanceAnalysis ........ 64
Calculation of Lag Distance ........ 65
Sight Line: ........ 66
د سبقت لپاره د دید فاصله Overtaking Sight Distance ........ 66
د مخکې کیدو د دید د فاصلې تحلیل Analysis of Overtaking Sight Distance ........ 67
د سبقت لپاره زونونه ........ 69
په څلور لارې (تقامع) کې د لید فاصله ........ 69
Sight Distance at Intersection، Intermediate Sight Distance ........ 69
د افقي مسیر ډیزاین Design of Horizontal alignment ........ 69
Design Speed ........ 70
افقي ګولایي ........ 70
Components of Curve ........ 71
انتقالي ګولایي Transitional Curve ........ 78
انتقالي ګولایي شکلونه ........ 78
عمودي ګولایي ........ 78
محدبه ګولایي ........ 78
د انتقالي ګولایي د اوږدوالي محاسبه کول ........ 79
عمودي ګولایي Vertical Curve ........ 80
په بیلابیلو سیمو کې د سرک ګراډینت ........ 80
په افقي ګولایي باندې په ګراډینت کې توازن ........ 81
Alignment Curve Report ........ 83
څلورم فصل ........ 92

(c) ketabton.com: The Digital Library


دسرک ساختمانی مواد ........................................................................ 92
دخاوری خواص:(Scharacteristic of soil) ........................................................ 93
جغل (Aggregate): ........................................................................ 105
دسرک لپاره دښه جغل خصوصات ........................................................................ 105
2- دسختی لپاره ازمایښت ( los angeles test): ........................................................ 107
3- دجغل دماتیدو ټسټ (Aggregate crushing Test): ........................................................ 108
قیر (Bitumen) ........................................................................ 110
2-تار (Tar) ........................................................................ 111
دقیر ګډوډول (Mixing) : ........................................................................ 112
دقیر ټستونه)Tests on bitumen(: ........................................................................ 112
طرز العمل: ........................................................................ 113
ستنه دهر مرتبي څخه وروسته دبنزین په واسطه پاک او وچ کیږي او په دي ترتیب د 3 واړو اوسط لاس ته راځي. ........................................................................ 114
دارتجاعیت ټسټ(Ductility test): ........................................................................ 115
دقیر دنرمش دنقطي ټسټ(Softening Point test): ........................................................ 116
طرزالعمل : ........................................................................ 117
دحرارت دضایع کیدو تست (Loss on heating test): ........................................................ 117
دمنحل کیدو تست(Solubility test): ........................................................ 117
پنځم فصل ........................................................................ 120
دسرک دساختماني اجزاء ډیزاین........................................................................ 120
دارتجاعیسرکونوډیزاینDESIGN OF FLEXIBLE PAVEMENT ........................................................ 124
فرمول........................................................................ 125
شپږم فصل ........................................................................ 130
دســـــرك دجـــــوړولوطريقه ........................................................................ 130
اووم فصل........................................................................ 136
دسرک په مسیر کی ساختما نونه ........................................................................ 136
پــــــــــل Bridges ........................................................................ 136
دپل اجزاو ترتیبcomponents of bridge........................................................................ 136
١. The super structure........................................................................ 137
٢. Component of sub structure ........................................................................ 137

(c) ketabton.com: The Digital Library


پـــلچـــک Culvert ......................................................... 139
پلچکونه دساختمان له مخي په لاندي ډول دي : ........................................ 139
Slab Culvert ........................................................................ 142
دپلچک هایدرولیکي محاسبات .............................................................. 142
دپلچک لپاره $Abutment\ Disgin$ ........................................................ 151
دپلچک لپاره $Abutment\ Disgin$ ........................................................ 161
استنادي دیوال ........................................................................ 166
Design of Retaining wall ............................................................ 171
دحرارت درز فاصله Spacing of Expansion joint .......................................... 175
$canstraction\ joints$ ................................................................ 176
دعرضاني سیخانو دطول محاسبه Length of Tie bars ......................................... 180
دسرك جوړونې ماشین آلات ................................................................ 192
1. بلدوزر Bulldozer .................................................................. 193
2. تراکتور Tractor .................................................................. 193
ګریډر Grader ........................................................................ 194
.3 لوډر Loader ........................................................................ 195
ډمپترك Dump truck: ................................................................... 196
سکریپر Scraper: ..................................................................... 197
4. رولر(لنګر) Roller .................................................................. 198
دپسه دپښې په شان رولر: ............................................................... 199
درابري تیرلرونکي رولر: ................................................................ 200
لړزیدونکي رولر Vibratory Roller: ....................................................... 201
دسرك دقیراچونې وسایل Bituminous Road Machinery ........................................ 201
دسرك دقیراچونې وسایل ................................................................... 202
نهم فصل ............................................................................. 203
تخنیکي تدابیر: ........................................................................ 204
دامني تخنیك تعلیمات په لاندې ډولونو ویشل شویدي ........................................ 205
۱- د موقتو ګودامونو محاسبه: .............................................................. 209
- د موقتو ودانیو محاسبه: ................................................................. 213

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ساختماني پروسه د کتلوان کيندل: .................................................................. 213
- ساختماني پروسه د تهداب قالب بندي: ............................................................. 214
- ساختماني پروسه د تهداب کانکرېټ اچول:.......................................................... 214
- ساختماني پروسه د اچول شو کانکرېټ څارنه:...................................................... 215
- ساختماني پروسه د تيږو کار (سنګ کاري):........................................................ 215
- ساختماني پروسه د تهداب پرکاري: ................................................................. 216

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ســـريـــــــزه:

لکه څرنګه چې دالفلاح پوهنتون دانجنيري پوهنځی دسيول څانګې دنوموړې څانګې داتم سمسټردپرکټيك يا عملي کاردوري څخه وروسته هر ګروپ ته ددیپلوم ددفاع پروژه سپارل کيږي. په دغه لړی کې دغه پروژه مونږپنځه کسانو ته وروسپارل شوه چې په همدې لړی کې بې مونږته هم دباميانو په ولايت کې دباميانو دمرکزنه تر شيبر ولسوالی دشيبر کنډو پوري د(4.5KM)سرك دطرحې اوډيزاين پروژه راسپارلې ده.

نوموړي پروژه داستاد لخوا په پنځو برخو ويشل شويده چې په لمړی برخه کې يې دسرک په اړه عمومي معلومات،سروې، ترافيکي اشارات ،او دسرک ماشين آلات قرارلري. په دوهمه برخه کې يې دسرک د هندسی عناصرو ډيزاين او CIVIL3D قرارلری،په دريمه برخه کی دسرک ساختماني مواد ،تيستونه او دطبقاتو ډيزاين قرار لری ،په څلورمه برخه کې دسرک ساختمانونه،لکه پلچک،واش،استناديوال،وياله،او امن تخنيک قرار لري.په پنځمه برخه کې دسرک اعمار،دسرک براورد،او کاري پلان قرار لري..چې لمړی برخه د اورنګزيب سليمزي لخوا او دوهمه برخه يې دعبدالحق مبارز لخوا دريمه برخه د بشرمل لخوا څلورمه برخه دصبغت الله الکوزي لخوا او پنځمه برخه د محمد خارث نثار لخوا ترسره شوي دي. د معمول مطابق مونږ نوموړې پروژه په دوه برخوکې اجرا کړيده چې لومړي بې ګرافيکي لستونه دي چې په هغه کې د سرك مختلفې برخې دمثال په ډول دسرك هندسي اجزاوې لکه: ګولايي سوپر اليويشن اونور،دسرك ساختمانونه لکه پلچك، پل،کازوې اونور، دسرك تکنالوژيکي پروسې دسرك ساحوي پلان، دسرك دکار دنيرو منظم ګراف او جنتري پلان اوداسې نورشيان ښودل شويدي دوهمه برخه يې تشريحي اوراق دي چې په هغه کې په عمومي ډول دسرك په تاريخي تکامل اقسامو عمومي معلومات اوپه خاص ول زمونږ ديروژې اړوند -- سرك په باره کې معلومات، دهغه دساختمانو نو دډيزاين محاسبات، دتخنيکي چارو اوماشينري په باره کې معلومات دبې خطره تخنيك په باره کې معلومات او بالاخره دنوموړي سرك مالي او براوردي محاسبات اجرا شوي او ښودل شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اول فصل

## دپرژی په هکله عمومی معلومات

ځرنګه چی مونږ ته دباميانو ولايت په شيبر ولسوالی کی 4.5KM سرک د ډيزاين لپاره راکول شوي دنظر وړ سرک د هندسي عناصرو او اجزاو دډيزاين په منظور دباميانولايت طبيعي جوړښت اوهايدرولوژيکي مطالعات ترسره کوو.

## طبيعي جوړښت

باميان ولايت دافغانستان مرکزي اوغرني ولايتونو له جملي څخه دي

چي د لويديځ هندوکش او بابا غرونه پکي غزيدلي دي.نو همدارنګه زمونږ سرک هم د شيبر کندو په يو غرني سيمه کي تيريږي

## دباميان ولايت اقليم

د باميان ولايت چي دبحر له سطحي څخه ۲۵۰۰ متره لوړوالي لري.
اوړي يي لنډ او ژمي يي اوږود او سوړ وي. دتودوخي لوړه درجه $30c^0$

درجو ته رسيږي $20c^o$سانتي ګريد او په ژمي کي يي حرارت منفي -20ده

. دکلني اوربښت اندازه يي۳۰۰ ميلي متره او همواړو برخو کي۲۰۰ ميلي متره وي.

## دنوموړي سيمي جيولوجيکي خواص

نموړي سيمه د سرک جوړوني لپاره ښه مواد لري .چي ددي سيمي مواد دي چي هم اکثرا مواد well graded پکي لوي او وړي ډبري ليدل

کيږي چي کمپکشن يی ډير کم وخت نيسي.نموړي ساحه کي د بستر طبقي لپاره مکمل مواد موجود دي له نورو ځايونو څخه مواد راوړلو ته هيڅ ضرورت نشته.دا چي دغه سرک د ولسوالی او ولايت تر مابين دي نو ډير ترافيک پري حرکت کوي نو پاسني طبقه د اسفالتو څخه جوړوو.

دنوموړي سرک عمومي مشخصات

1 دسرک ټول طول 4.5km دي

2 ځرنګه چی زمونږ سرک پوه دښته کي تيريږي نو پدي اساس کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساختمانونه پکي وجود لري

د sub grad مواد يي خپله ښه تقويه مواد دي

4 د مقطعو او پروفيل څخه معلوميږي چي کيندنه او ډکون پکي زيات

ځکه چي دغه سرک په يوه غرني ساحه کي موقيعت لري

5 دافقي ګولايانوشمير يي 7او دعمودي ګولايانو شمير يي 5 دي.

6 دستراتيژيک له لحاظه مهم سرک دي.ځکه چي وروسته پاتي سيمه له

ښار سره وصلوي.

## د سړک اقتصادي فعاليتونه دوه مهم فکتورنه لري

1. د توليداتو ليږل او راليږل (ليږد او راليږد)
2. د انسانانو تګ را تګ چه هر چيرته وغواړي

ـــ د انتقلاتو اهميت د يوه ملک په اقتصاد کي ـــ

c د ترانسپورتيشن ښه سيستم د جنګ په وخت کي د مملکت د سرحداتو ددفاع او همدارنګه په داخل د ملک کښي د امن او امان د ساتلو لپاره ډير ضروري کنټل کيږي.

دانتقالاتو مختلفې لارې:

په عمومي صورت د انتقالاتو لارې عبارت دي له :

1. سړکونه ———————— Road Ways
2. د ريل خطونه ———————— Rail Ways
3. بحري لارې ———————— Water Ways
4. هوايي لارې ———————— Air ways

د سړکونو په ذريعه د انتقالاتو خصوصيات د ترانسپورتيشن يا انتقالاتو اهميت :

د ترانسپورتيشن رول د يو ملک په اقتصادکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانسپورتيشن د يو مملکت په اقتصاد، صنعت ، ټولنيز او کلتوري پيشرفت کې عمده او اساسي رول لوبوي. ترانسپورتيشن د هرې منطقې د اقتصادي پر مختيا لپاره ډېر ضروری دی ځکه هر جنس که هغه غذايي مواد وي ، صنعتي محصولات وي او يا هغه دواګانې وي چي د توليد او توزيع په وخت کي ترانسپورتيشن ته اړتيا لري. د توليد په وخت کي د خامو موادو ترانسپورتيشن لکه تخمونه ،کېمياوی سره ، پنبه، اوسپنه اونوردانتقال لپاره ضرورت لري او د توزيع په مرحله کي ترانسپورتيشن د موادو د انتقال لپاره د هغې د توليدي مرکزونو څخه ضروري ګڼل کيږي. د ترانسپورتيشن کم والي د يو اجتماعي او اقتصادي پيشرفت په پروسه کې يو لوي خنډ دی او برعکس د ترانسپورتيشن د سيستم زياتوالي د مملکت د اقتصادي ، اجتماعي پرمختيا سمبول ګڼل کيږي.

**د ترانسپورتيشن ټولنيز اثرات :**

د ترانسپورتيشن ټولنيز اثرات په لاندې ډول خلاصه کوو.

a: د ترانسپورتيشن ښه سيستم د ملک په داخل کې د لري پرتو قومونو او کليو د ژوند د اصلاح او بهتروالي باعث ګرځي ځکه د ترانسپورتيشن د ښه سيستم موجوديت د ښارونو او لري پرتوسيمو ترمنځ فاصله کموي.

b: د ترانسپورتيشن د ښه سيستم موجوديت چون په لويو ښارونو کښي د يوې نقطې څخه بلې نقطې ته د کاروبار په خاطر د تګ او راتګ لپاره زيات وخت نه ضايع کوي او خلک تشويق کيږي د کاروبار پخاطر ښارونو ته مخ کړي چي په دې صورت کښي د هغوي اقتصاد تقويم کيږي.

1. د ترانسپورتيشن ښه سيستم د ملک په داخل کی د لری پرتو قومونو او کليو د ژوند د اصلاح او بهتروالی باعث ګرځي. ځکه د ترانسپورتيشن د ښه سيستم موجوديت د ښارونو او لری پرتو سيمو ترمنځ فاصله کموی
2. د ترانسپورتيشن د ښه سيستم موجوديت په لويو ښارونو کی د يوی نقطی څخه بلی نقطی ته د کاروبار په خاطر د تګ او راتګ لپاره زيات وخت نه ضايع کوي او خلک تشويق کوی.

د ترانسپورتيشن ښه سيستم د جنګ په وخت کی د مملکت د سرحداتو د دفاع او همدارنګه په داخل د ملک کی د امن او امان د ساتلو لپاره ډير ضروري ګڼل کيږی

دا يومنل شوي حقيقت دي چي د سړکونو په ذريعه ترانسپورتيشن نسبت ټولو نورو لارو ته خلکو ته نژدي دي. مسافرين او سامانونو مخکې لدې څخه چي د هوايي او بحري لارو په ذريعه انتقال شي بايد چي هوايي ميدان او بندرګاه ته د سړک د لارې انتقال شي.

د سړکونو په ذريعه انتقالات د لاندې خصوصياتو لرونکې دي :

- :په سړکونو باندي هر ډول وسايط لکه ريکشه ، بايسکل ، موټر اونور حرکت کوي يعني حرکت کولاي شي پداسي حال کښي چي په بحر کښي يواځې کښتۍ او په هوايي لارو کې يواځې طيارې تګ او راتګ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- : حکومت کولاي شي چي د سړک جوړوني یوه پروژه په کمه بودیجه جوړه کړي او هم وسایل او تجهیزات په کم قیمت خریداري کړي پداسي حال کې چي د طیارو او کښتیو خریداري زیاتې بودیجې ته ضرورت لري.
- : په سړکونو کې مطلقه آزادي موجوده وي وسایط کولاي شي د یو لین څخه بل لین ته دیو سړک څخه بل سړک ته په آزادانه شکل حرکت وکړي مګر دا ډول آزادي په نورو لارو خصوصاً ریل ګاډیو کې وجودنلري.
- :د ریل واګنونه ، کښتۍ او طیارې معمولاً دولت پوري اړه لري او عامه نه وي پداسي حال کې چي د سړکونو څخه عام خلک او حکومتونه په آزادانه او آسانه توګه استفاده کوي.
- : د کلیو ترمنځ معمولي ترانسپورتیشن د سړک پواسطه صورت نیسي . نوموړي کارد ترانسپورتیشن په نورو لارو امکان نلري.
- : د زراعتي محصولاتو ترانسپورتیشن یواځې او یواځې د سړکونو پواسطه صورت نیولای شی اوبس.
- : د سړکونو پواسطه انتقالات د جوي تاثیراتو تابع نه وی.
- : سړک دهغه انتقالاتي وسایلو له جملي څخه دی چي د تل لپاره پرته د هر ډول شرایطو څخه د حکومت او خلکو د خدمت د اجراء لپاره تري استفاده صورت نیولای شی . خصوصاً د څارویو او نورو حیواناتو په انتقال کې د یوې منطقې څخه بلې ته ( تلو او راتلولپاره ) همیشه آماده وي.

او سخته سطحه ولري. د همدې مفکورې په انکشاف سره د خلکو د ارامتیا او د خاورو دوړو څخه او همدارنګه ختو څخه پاک سړکونه چي د قیر او کانکریټي سړکونو څخه عبارت دي جوړشول. چي د سړکونو دغه فني حالت د همدي دعوي د ثبوت یو څرګند دلیل دي.

ــ په کلیوالی پرمختګ کی د حمل اونقل اهمیت

سرکونه دیو هیوادپه اقتصاد،کلتوراواجتماع مهم تاثیر لري.دسرکونوحالت دیوملک داقتصادي حالت ښکارندوي وې چې څومره دیو ملک سرکونه په ښه حالت کي وې په هماغه اندازه به دهغه ملک اقتصادې حالت،تجارت،اود خلکودژوندکچه لوړه وې.

که چیري دیوي منطقي سرکونه پاخه وې نومریض ژراوپه کم وخت کي هسپتال ته رسیدلي شي.یوزده کونکي په اسانۍ سره او په کم وخت کي خپلي تعلیمي اداري ته رسیدلي شې.تجارت په کم وخت کي دخپل مرکز ته صنعتي اشیا خپل مطلوبه ځاي ته اودکروندودځایونوڅخه تر منډوي پوري د حاصلاتوانتقال په کم وخت کي تر سره کیږي چې دغه ټول مواردديوي منطقي دترقی سبب ګرځي .

# Rules of transportation in rural development

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کی ۸۰٪ خلک په کلیوالی سیمو کی اوسیږی. په ښاری سیمو کی پرمختګ د ټول هیواد پرمختګ نه ګڼل کیږی.ځومره چه د حمل او نقل په وسایلو کی پرمختګ راځی.هومره ورسره په ښاریسیمو کی پرمختګ راځی. خلک کولی شی په آسانۍ سره خپل تولیدات د خرڅلاو مرکزونو ته ورسوی.

## د حمل او نقل بیلا بیل شکلونه

**Different modes of transportation**

حمل او نقل په دریو شکلونو سره تر سره کیږی.۱:په وچه ۲:په اوبو۳:په هوا کی





۱ تصویر

۲ تصویر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي توګه د لیږد را لیږد ډولونه عبارت دی له

| | |
|---|---|
| ۱:سړکونه یا لوی لاری | Road Ways |
| ۲:د ریل خطونه یا د اورګاډی پټلي | Rail Ways |
| ۳:هوایئ لاري | Ari Ways |

## د سړکونو په ذریعه د انتقالاتو خصوصیات

دا یو منل شوی حقیقت دي چه د سړکونو په ذریعه ترانسپورتیشن نسبت تولو نورو لارو ته خلکو ته نژدې دی. مسافرین او سامانونه مخکی له دی څخه چی هوایئ او بحری لارو په ذریعه انتقال شی.باید چی هوایئ میدان او بندرګاه ته د سړک لاری انتقال شی.

ـ د سړکونو په ذریعه انتقالات د لاندی خصوصیاتو لرونکی دي ـ

A. په سړکونو باندی هر ډول وسایل لکه:ـ ریکشه،باسیکل،موټر او نور حرکت کوی.په داسی حال کی چی په بحر کی یواځی کښتی او په هوایئ لارو کی یواځی طیاری تګ او راتګ کوی.
B. حکمت کولی شی چی د سړک جوړونی یوه پروژه په کمه بودیجه جوړه کړی او هم وسایل او تجهیزات په کم قیمت خریداری کړی په داسی حال کی چی د طیارو او کښتیو خریداری زیاتی بودیجی ته ضرورت لري.
C. په سړکونو کی مطلقه آزادی موجوده وی وسایط کولای شی د یو لین څخه بل لین ته د یو سړک څخه بل سړک ته په آزادانه شکل حرکت وکړی.مګر دا ډول آزادی په نورو لارو خصوصاّ په ریل ګاډی کی وجود نلری.
D. ریل ګاډی،کښتی او طیاری معمولاّ دولت پوری اړه لری . او عامه نه وی پداسی حال کی چی د سړکونو څخه په عام خلک او حکمتونه په آزادانه او آسانه توګه استفاده کوي.
E. د کلیو پرمنځ معملاّ انتقلات د سړک په واسطه صورت نیسي.نوموړی کار د انتقلاتو د نورو د نورو لارو په واسطه امکان نلري.
F. د زراعتی محصولاتو انتقلات یواځی او یواځی د سړکونو په واسطه صورت نیولی شی

## ـ د سړکونو تاریخي تکامل ـ

## History of road development

په ډیرو پخوانیو زمانو کی چی موټرونه لا نه و پیدا شوي.چی د خلکو تګ او راتګ د یوی منطقی څخه بلی منطقی ته آسانه نه وو او لری فاصلو ته د خلکو تګ او راتګ په پیاده شکل صورت نیول کیده.چی ددی کار لپاره د پیاده راتګ پیاده او لاری چی د کم عرض لرونکی وی جوړیږی.د کراچیو او ګاډیو د اختراع څخه وروسته چی د حیواناتو پواسطه کش کیدی.خلک مجبوره شول چی ددی ډول انکشافی وسایلو د انکشاف سره پیوسته لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه پراخ نسبتاً عریض سړکونه چې هموارې سطحې ولرې جوړ کړي. د سړک جوړونې فن او هنر په لمړي ځل په روم کې اختراع شو. د روم خلک د سړک جوړونې په فن کې خاص نوم او مهارت درلود.کله به چې وسایط په سړک باندې په ډیر زیات سرعت حرکت کولو نو ډیرې خاورې او دوړې د سړک د سطحې څخه پورته کیدلې او د خلکو د تکلیف باعث په ګرځیده.د زماني په تیریدو سره خلک په دې هڅه کې شول چې څه ډول سړکونه باید جوړ کړي چې کلکه او سخته سطحه ولري. د همدې مفکورې په انکشاف سره د خاورو دوړو څخه او همدارنګه ختو څخه پاک سړکونه چې د قیر او کانکریټي سړکونو څخه عبارت دي جوړ شول.چې د سړکونو دغه فني حالت د همدې دعوې د ثبوت یو څرګند دلیل دی د پخوانیو سړکونو ډولونه او همدارنګه د هغوی د جوړولو طریقې په لاندې ډول معملاً تشرح شوي دي.

## ــ رومن سړکونه ــ

## Roman Roads

د روم پخوانی سړکونه چې تقریباً (۲۰۰۰) کاله مخکې جوړ شوي اوس هم موجود دي.کوم سړکونه چې په دې طریقې جوړیدل بادوامه او ضخیم وو.څرنګه چې په دې ډول جوړ شوو سړکونو کې زیاتو موادو ته ضرورت وو نوموړي سړکونه غیر اقتصادي تمامیدل.د نوموړو سړکونو عمده خصوصیات په لاندې ډول دي

«» دا ډول سړکونو زیات ضخامت درلوده چې تقریباً مجموعي ضخامت في $(0,75 - 1,2)$ متره وو.

«» دا ډول سړکونه مستقیم او هموراه او عرض میل پکښې په نظر کې نه نیولکیده.

«» دا ډول سړکونه په نرمه ځمکه یا خاوره نه جوړیدل توله خاوره د سړک د عرض په اندازه کندنکاري کیدله ترڅو لاندې سختې طبقې ته ورسیږي بیا وروسته د هغې د پاسه طبقه جوړیدله.

### ــ د رومن د سړکونو د جوړولو طریقه ــ

1. په لومړي قدم کې توله نرمه خاوره د ځمکې د مخ لیرې کیږي ترڅو سختې طبقې ته ورسیږي چې کندنکارۍ عرض د سړک د عرض $((Carriage\ way))$ سره
2. په کندنکارۍ شوې ساحه کې یوه یا دوه طبقې ډبرې د چونې د مصالح سره یو ځای د $((10 - 20\ cm))$په ضخامت اچول کیږي.
3. د نوموړي طبقې د پاسه د چونې کانکریټ یوه طبقه $((Lime\ concrete))$ چې د ډبرو ټوټو او چونې سره مخلوط شوي وي $((25 - 40cm))$په ضخامت اچول کیږي.
4. ددې طبقې د پاسه بیا د چونې کانګریټ چې د ډبرو د ورو ورو پارچو څخه مخلوط شوي وي د $((25 - 40cm))$په ضخامت اچول کیږي.
5. بیا د پورته طبقاتو د پاسه د سړک د فرش طبقه $((Wearing\ coat))$ چې $((10 - 15cm))$په ضخامت اچول کیږي.

په لاندې شکل کې د رومن سړک مقطع ښودل شوید

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. د تهداب غټې تیږې د چونې مصالح سره $(10-20)cm$
II. ماتې شوې تیږې د چونې مصالح سره $(25-40)cm$
III. د چونې کانکریټ $(40-25)cm$ پوړ
IV. غټې تیږې خښتې د چونې د مصالح سره د $(15-10)cm$ پوړ
V. کندکاری ځځه وروسته د خاورې سخته طبقه

د یو څرګند حقیقت دی چې رومیسړکونه کلک سړکونه و څکه چې په هغوی دومره بارونه نهچلیده.

## « تریساګویت سړکونو د جوړولو طریقه »

تریساګویت چې «1775-1785» ترس کوټ 1764 کې په فرانسه کې د سړک جوړونې یو نوی میتود منځته راوړو. ده وویل چې سړک پیړوالی باید 30cm ته راکم کړ،بله مهم خبر دا وه چې هغه وویل د سړک لاندی طبقه لږه نمجنه کړای شي او د سړک سطحه داسې وی چې اوبه وویستل شي.

نوموړی تریساګویت په «1775-1765» پوړی د سړک جوړنې وه.

د تریساګویت د سړک جوړولو طریقه په لاندې ډوله

د سړک د $Sub\ grade$ طبقه د لویو تیږو د قطارونو کولو ځخه چې د لاس پواسطه یو د بل په څنګ کې ایښودل کیدی او هم د سړک څنډو کې دوه لوی تیږې چې $Kerb$ وظیفه خې اجرا کوله ایښودل کیږی.بیا د لویو تیږو ځخه به د چکش په ذریعه جغل یعنی ورسیږی.جوړیدی او د $8cm$ په اندازه د نوموړی طبقې لپاسه اوچول کیدی او د هغې ځخه وروسته د سړک پورتنی طبقه یعنې $(Wearing\ Surface\ coorse)$ به د کوچنیو تیږو ځخه جوړیده.چې ددی طبقې ضخامت $5cm$ د نوموړی سړک عرضې میل 1:45 $(Comber)$خو پهدیسړکونو $(Shoulder)$ ته هم میلان ورکول کیده تر څو اوبه د سړک ځخه $(Shoulder)$ او بیا د سړک ځخه درنیاژ $(Darnage)$ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Telford’s Road Construction تیلفورد سړک جوړول

توماس تلفارد (1834-1767) خپل کار په نولسمی 19 پیړی په پیل کی د خپل کار شروع کړه او په لندن کی د سیول انجینری انستیتویت ډبره یی کیښوده.تیلفورد د سړک جوړونی لاندی طبقی طریقی پیشنهاد کړی.

1. ښکتنی طبقی عرض فی 9m تعین کړ.
2. د بستر په ښکتنی طبقه کی لوی تیږی چی $(17-22)cm$ په اندازه قطر لرونکی وی د لاندی شکل مطابق ځای پر ځای کړی.

شکل تحلیلی

3. د تیږو ترمنځ خالیګاوی د میده شویو تیږو د ټوټو ځخه $(Chippings)$ ډکیدی.
4. د پورتنۍ طبقی د پاسه د $(5-10)cm$ په ضخامت د میده شوی تیږو طبقه جوړیده او نوموړی همواره کیده او بیا ټپک کاری کیده.
5. د سړک په انجامونو کی کله کله د لویو تیږو په عرض $(kerb\ Stone)$ د میده ټپک شوو.
6. یو ښونکی طبقه 4cm پیروالی سره په لړه سطحه کی اچول کیږی. او وروستنی سطحی ته $\frac{1}{45}$ عرضی میلان ورکول کیږی.

تلفارد وړاندوینه وکړ چی د سړک په پلنوالی فی په 9cm کی نو زابریساختمان ورکول شی معمولاً دا ساختمان به د تهداب لاندی وی.

## ماکډام سړک جوړونه Macadam Construction Road

جان ماکډام $(1756-1836)$ د سړک جوړونی لپاره یوه کاملاً نوی نظریه منځ ته راوړه هغه دا نظریه د تیږو هغو پرتله بیخی بدله وه.پدی اړه هغه نوی نظریه په (1815) کی د سړک د پرمختګ لپاره ورکړه ماکډام په برطانیه کی د سړک عمومی سروی کوونکی وه.

نوموړی سړکونه په لاندی ډول جوړیږی

تحتانی یا $(Gub\ Grade)$ طبقه چی د هغی میل 1:36 دی لوموړی اماده او بیا ټپک کاری کیږی بیا د هغی د پاسه د میده تیږو یوه طبقه چی د $5cm$ جالی ځخه تیر شی د $10cm$ په ضخامت سره هموار او ټپک کاری کیږی د میده تیږو دوهمه یی $3,75cm$ ضخامت لری د $10cm$ په اندازه فرش کیږی.وروسته د هغه جغل چی د $1,9mm$ قطر لرونکی جالی ځخه تیر شی د $5cm$ په اندازه د سړک د پاسه فرش کیږی.چی دا طبقه د سړک د فرش د طبقی یا $(Wearing\ Coat)$ په نامه یادیږی.د میکاډم د سړک مقطع په لاندی شکل کی ښودل کیږی د میکاډم او تیلفورد د سړک جوړو فی مقایسه په لاندی ډول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## « د میکادم د سړک جوړولو میتود »

«» د بستر طبقی ته د 1:36 عرض میل ورکول کیده د بستر د طبقی څخه د اوبو د درنیاژ ($Drainage$) په خاطر

«» د سړک فرعی تحتانی طبقی ($Sub\ base\ course$) ته $10cm$ ضخامت ورکول کیده او د هغه میده تیږی څخه چی ضخامت فی د *5mm* څخه کم وو جوړیده.

«» تحتانی طبقه او د پوسس طبقه د *10cm* په ضخامت د تیږو څخه چی قطر یی د *5mm* څخه کم وو جوړیده او نوموړی طبقی ته د *1:36* په اندازه عرضانی میلان ورکول کیده.

«» د نوموړی نوع سړک مجموعی ضخامت دکنار څخه تر مرکزه پوری په ثابت ډول تر *25cm* پوری رسیده.

## د تیلفورد د سړک جوړولو میتود

«» د بستر طبقی هموار شکل درلود او بستر د طبقی څخه د اوبو د اخراج لاره نه وه موجوده.

«» د سړک د فرعی تحتانی طبقی لپاره لویی تیږی چی اندازه یی د $(17-25)cm$ پوری وه استعمالیږی.

«» د پوسس د طبقی د مخه د میده تیږو د دوه طبقی د سړک د تهداب د پاسه اچول کیدی او د پوسس طبقه د $4cm$ په ضخامت چی *1:45* عرض میل درلوده جوړیده.

«» د سړک ټول ضخامت د $35cm$ څخه تر $41cm$ پوری رسیده.

## اساسی تعریفات

سړک عبارت د هغه لاری څخه دی چی د هغی لپاسه وسایطه ($Vehicles$) بایسکل سوار ($Cyclists$) او پیاده خلک په قانونی ډول د یو منطقی څخه بلی منطقی ته د تګ او راتګ کوی.پورته ذکر شوی وسایط بایسکل سواره او پیاده تلونکی ($Pedestrian$) د ترافیکو نوم یادیږی.

«» ملی سړک($Country\ Roa$): هغه سړک ته ویل کیږی.چی د یو ولایت د بل ولایت او یا هم یوه ولسوالی د بلی ولسوالی سره وصلوی د ملی سړک په نوم یادیږی.

«» ښاری سړکونه ($Urban\ Road$): هغه سړکونه چی د ښار په داخل کی د یو ځای د بل ځای سره وصلوی د ($Urban$)سړکونو په نوم یادیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«» *Carriage Way*): د سړک هغه قیر شوی یا کانکریټ شوی برخه چې د ترافیکی وسایطو د موټرو لارۍ،لارۍ او نور تری استفاده کوی.د (*Carriage Way*) په نوم یادیږی.

«» (*Shoulder*): د سړک هغه برخه چې د (*Carriage Way*)ترمنځ قرار لری.د سړک د ساتو یا د سړک شولډر په نوم یادیږی.

«» (*Land Width*): د سړک د موټرو برخی (*Carriage Way*)د شانو (*Shoulder*) جانبی معبرونو داد سړک دواړه خواوو ته هغه ساحه چې پکښې ونی کرل کیږی د حاصل جمع څخه عبارت دی.

«»(*Super Highway*): هغه لویی لاری چې په هغه باندی یواځی د زیات سرعت وسایط کولای شی تګ او راتګ وکړی البته په جدا (*Carriage Way*) باندی د پورته سړکونو څخه عبارت دی.

«» *Side Walk*(*Foot Paths Fvot Way*) : د هغه لارو څخه عبارت دی چې یواځی او یواځی پیاده خلک (*Pedestrians*) ورڅخه استفاده کیږی.

«» (*Traffic Lane*): *Carriage Way* د هغه واحد عرض څخه عبارت دی چې په واحد د وخت کی یواځی او یواځی یوه واسطه کولای شی د هغی دپاسه حرکت وکړی.سړکونه کیدای شی چې څو لینونه ولری لکه یوه لینه،دوه لینه سړک، دری لینه سړک او نور چې په نوموړی پروژه کی زمونږ سړک دوه لینه سړک مونږ د ډیزان لپاره نیولی دی.

1. د سړک حدود: د سړک د مسیر لپاره د ځمکی قیمت په پام نیول کیږی چې په هغی کی د سړک عرض،شولډر،پیاده او ونه درنیاژونه د بوټو کرلو لپاره ځای د راتلونکی انکشاف لپاره ځمکه په نظر کی نیول کیږی.

د سړکونو د پلان کولو طرحه باید څرنګه وشی.

څه وخت چې د یوی ساحی لپاره د سړک مسیر ټاکل کیږی د هغی پلان ګذاری لپاره لاندی نقطی باید په نظر کی ونیول شی.

1. ډیر لګښت سره د یو اغیزمن او دادمن ترافیکی فعالیت لپاره د سړکونو د شبکی پلانول مهم دی.
2. په بیلابیلو کتګوریو کی سړکونو کوم چې ډیر کاریږی او په شته مالی سرچینو باندی د پلان شوی دوری په موده کی جوړ شی.
3. د پلانولو بل ډول دادی چې د سړک د پراختیا لپاره د سړکونو ترمنځ لومړی توب وټاکل شی.
4. او دا چې له اتکل سره سم راتلونکی لپاره د سړکونو پراختیا په پام کی ونیول شی.
5. مالی سیستم ورته پیدا شی.

## د سړکونو ډولونه Types of Roads

نظر موسم ته یا اب او هوا ته سړکونه په دوه ډوله دی

A. د هری هوا سړکونه All Weather Roads

(c) ketabton.com: The Digital Library

B. د مناسبی هوا سړکونه          **Fair Weather Roads**

## A.د هری هوا سړکونه

دا هغه ډول سړکونه دی چی په هر ډول موسم کی تری ګټه اخیستل کیدای شی.یواځی په ځینو استیثنایی حالاتو کی محدودیتونه لری.لکه یو غټ سیند د سړک په مخ کی راغلی وی.

## B. د مناسبی هوا سړکونه

دا هغه ډول سړکونه دی چی کیدای شی د پسکال $(Monsoon)$ په موسم کی ورڅخه ترافیک تیر نشی ځکه کیدای شی دسړک پر وړاندی د اوبو تیریدو لار $(Cause\ Way)$ راغلی وی.

د موټر او یا موټرو لاری د فرش طبقی $(Pavement)$ ته په پام سره سړکونه په لاندی ډول ویشل شوی دی.

اول پاخه سړکونه **Paved Roads**: هغه سړکونه دی چی لږ سطحه یی سخته فرشی طبقه $(Hard\ Pavement\ Cours)$ ورکول شوی کوم چی تر ټولو لږ اوبه تیروی.

دوهم خام سړکونه **Unpaved Roads**: هغه سړکونو ته ویل کیږی چی لږ تر لږه بره سطحه کی د اوبو تیریدو فرش $(Macodam)(Water\ Bound)$ نه وی ورکول شوی خام سړکونه بیل کیږی،خاورین او جغل پدی ډول کی راځی.

## « د سړکونو د درجه بندی میتودونه »

## « Methods Of Classification Of Roads »

### په عمومی ډول سړکونه په لاندی بنیاد درجه بندی کیږی.

A. ترافیکی حجم          **Traffic Volume**

B. د لیږد را لیږد بارتوناژ **Loud Transported Tonnage**

C. موقعیت او وظیفه          **Location And Function**

A. ترافیکی حجم له مخی هر هیواد بیل بیل ګوډ لری خو بیا هم په دری ډوله

$^{Vehicle}/_{Day}$ یا

(c) ketabton.com: The Digital Library







**B. د موقعیت او وظیفې له مخې په څلورو ډوله**

I. ملی سړکونه (N H)National Highway

II. ولایتی سړکونه (S H) State Highway

III. د ولسوالیو سړکونه (D R) District Roads

IV. د کلیو سړکونه (V R) Village Roads

I. ملی سړکونه: هغه سړکونه دی چې پایتخت له نړی سره نښلوی.

II. ولایتی سړکونه: هغه سړکونه دی چې ولایتونه د پایتخت سره نښلوی.

III. د ولسوالیو سړکونه: هغه دی چې ولسوالی د اړونده ولایت سره نښلوی.

IV. د کلیو سړکونه: هغه دی چې کلی له ولسوالی سره نښلوی.

## په افغانستان کی د سړکونو طبقه بندی

د 1980 میلادی کال څخه مخکی سړکونه په لاندی ډول صنف بندی شوی وه

عمومی شهراوی « National Highway »

اصلی سړکونه د ښارونو او ولسوالیو ترمنځ (Major District Road)

«» کلاس Aسړکونه

«» کلاس Bسړکونه

«» کلاس Cسړکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښاري سړکونه Urban Roads

### « عمومي شهراوي يا سړکونه »

1. دا ډول سړکونه د ښارونو مراکز او مملکتونه سره وصلوئ.عمومي سړکونه د دوه ترافيکي خطونو لرونکي وي او د 7,2 مترو په اندازه عرض او دواړو خواوو د 3 مترو په اندازه شولډر لري.
2. اصلي سړکونه د ښارونو او ولسواليو په منځ کې دا ډول سړکونه ښارونو او ولسواليو سره وصلوي د A کلاس سړکونه د مجاوري ولسوالي ګانې سره وصلوي چې عرض يې 7 مترو په اندازه وي او جغل اندازه شوي وي B کلاس سړکونه ولسوالي سره وصلوي چې عرض يې 5 متره او د جغل او د ختې مخلوط څخه جوړ شوي و.
3. ښاري سړکونه (Urban Roads): ښاري سړکونه د مخکنيو دوه ډولونو سره فرق لري د هغو عمومي اساسات د اول او دوهم په شان وي ددې ډول سړکونو د سطحې نوعيت د وسايطو په تعداد او نوعيت پورې اړه لري.

## د سړکونو پلانګذاري Highway Planning

«د سړکونو پلان» په اوسنی عصر کی د هر انکشافي پروګرام د شروع کولو څخه د مخه د هغی پلان ګذاري يو ضروري امر ګڼل کيږي. نوموړي فرضيه د انجينري په پروژو کی زيات صدق کوي او همدارنګه د سړکونو په انکشافي پروګرام کی چی خصوصاّ ضرورت يی زيات او بوديجه يی کم وي. پلاننګ عمده رول لري کله چی بوديجه کم وي او ضرورت زيات وي نو د مقدماتي او لمړيو ضروريتونو په تثيت او ټاکنه کی پلاننګ عمده رول لوبوي د سړکونو پلاننګ د لاندي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره تر سره کيږي.

1. اول موجوده بوديجي پواسطه مناسب نوع د سړک چی اعظمی طول لرونکی وي جوړ شي.
2. دوهم د سړکونو د پلاننګ سيستم په راتلونکی کی نظر د مملکت پرمختګ ته د پراختيا او اصلاح لپاره اضافي ځای په نظر کی نيسي.
3. دريم که چيري موجوده بوديجي په واسطه مورد نظر سړک جوړول امکان ونلري او انکشافي مرحله يی پروګرام د سړک لپاره بايد پلان شي.
4. څلورم د سړکونو پلاننګ د سړکونو په لومړي نور مونو(*Priorites*) کی کومک کوي په هغه صورت کی چی ټول مورد نظر سړکونه جوړول نظر بوديجي ته امکان ونه لري.نو د مهمي برخي په موجوده بوديجي باندي پلان او جوړ شي.
5. پنځم:- د سړک پلاننګ د سړکونو د مالي سيستم د تنظيم لپاره هم ګټور دی.

## « د سړکونو د پلان ګذاري ضرورت »

په اوسنی عصر کی هر انکشافي پروګرام د شروع کولو څخه مخکی د هغی پلان ګذاري يو ضروري مر ګڼل کيږي.خصوصاّ د انجينري هر پروګرامونو کی پلان ګذاري د نويو پروژو لپاره او همدارنګه د مخکښنو پروژو انکشاف يو ضروري کار دی. نو بنا پردی دليل پلان ګذاري د سړک د پروژی لپاره هم يو ضروري امر دی خصوصاّ د سړکونو پلان ګذاري په هغه صورت کی ډيره زياته ضروري ده.چی د سړک بوديجه کمه او اړنيا يی زيات وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه دی صــورت کــی بهتــره داده چــی پــلان پــه سیســتماتیک ډول جــوړ شــی ترڅــو ځــو ضــروری کارونه په اول قدم او نور متباقی کارونه په تدریج سره په بعدی قدمونو کی تریره کیږی.

## « د سړک جوړونی پلان گذاری لاندی ساحی په برکی نیسی »

1. د یو سړک پلانول په اضغری قیمت د ساختمانی حفظ او مراقبت او نور
2. د سړک پلانول د اعظمی استفادی لپاره
3. د مخکنیو سړکونو د انکشاف لپاره د لازم وخت تعینول.
4. د راتلونکی ضروریتونو پلانول او د اوسنی سړکونو انکشاف
5. د مالی سیستم ترتیبول.

## Classification of Roads : د سړکونو انواع

عموماً سړکونه په لاندې ډول طبقه بندي شويدي.

1) د سړکونو انواع نظر د عراده جاتو حجم ته.
2) د سړکونو انواع نظر د حرکت سمت ته.
3) د سړکونو انواع نظرد تک او راتګ خطر ته.
4) د سړکونو انواع نظر د ساحي طبعي شکل ته.
5) د سړکونو انواع نظرد هغوي قيمت ته.
6) د سړکونو انواع نظر د هغوي موقعيت او اهدافو ته.
7) د سړکونو انواع نظر د هغوي د سطحې سختی ته.

### ⇐د سړکونو انواع نظرد عراده جاتو حجم ته:

سړکونه نظرد عراده جاتو حجم ته په دري ډوله دي :

A. کم ترافيک لرونکيسړکونه Low Traffic Volume Roads : عبارت د هغه سړکونو څخه دي چي هره ورځ 400 عراده جات د هغي څخه تيريږي.
B. متوسط ترافيک لرونکيسړکونه Medium Traffic Roads : عبارت د هغه سړکونو څخه دي چي روزانه د 400 څخه تر 1000 عراده جات د هغي څخه تيريږي.
C. زيات ترافيک لرونکيسړکونه High Traffic Volume : عبارت د هغه سړکونو څخه دي چي روزانه د 1000 عراده جاتو څخه د هغي څخه تيريږي.

⇐ د سړکونو انواع نظر د عراده جاتو د حرکت سمت ته:

### A. دوه طرفه سړکونه : Two Way Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چي په هغې باندې عراده جات په دوه مخالفو جهتونو باندي عبور کوي. معمولاً ددې ډول سړکونو عرض د پیاده رو په شمول 12m وي.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### B.دوه طرفه ځو لينه سړکونه : Multi line two way

په دې ډول سړکونو کې د مخالف الجهته عراده جاتو لپاره جداګانه سړک په نظر کې نيول کيږي. يعنې د عراده جاتو د عبور لپاره دوه موازي سړکونه چې د هغوي په منځ کې شنه ساحه وجود لري، په نظر کې نيول کيږي.

C. د نوموړو سړکونو څخه يو يې تګ او بل يې د عراده جاتو د راتګ لپاره په نظر کې نيول کيږي. عموماً دا ډول سړکونه په ښهري ساحاتو کښې ده خاطر چې ترافيک پکې زيات وي په نظر کې نيول کيږي.

### ⇐ د سړکونو انواع نظر د تګ او راتګ د خطونو تعداد ته:

#### a) يو لينه سړکونه : Single Lane Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې په يو وخت کې صرف او صرف يوه عراده ورڅخه عبور کوي. نوموړي سړکونه په ښارونو کې په نظر کې نيول کيږي او معمولاً ددې ډول سړکونو عرض 3.8m وي.

#### b) دوه لينه سړکونه : Double Lane Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې يو وخت کې دهغې څخه دوه نقليه واسطې عبور کوي. ددې ډول سړکونو عرض د پياده رو په شمول 12m وي.

#### c) ځو لينه سړکونه : Multi lane Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې يو وخت کې ځو عراده جات کولاي شي د هغې څخه عبور وکړي. معمولاً دا ډول سړکونه په لويو ښارونو کې جوړيږي ځکه چې په لويو ښارونو کې د ترافيکو حجم زيات وي.

### ⇐ دسړکونو انواع نظر د ساحې نوعيت ته:

سړکونه نظر د ساحې نوعيت ته په دوه ډوله دي.

#### A.هموار سړکونه :Plain Area Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې په هموارو دشتو يا هموارو ځمکو باندې جوړيږي. د کم ميلان لرونکې وي يعنې ددې ډول سړکونو په جوړولو کې د کندنکارې او پرکارې حجم ډير کم وي.

#### B.غرنې سړکونه : Hill Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې په غرني مناطقو کې اعماريږي. ددې ډول سړکونو جوړول مشکل کار دی او ددې ډول سړکونو ډيزاين ، ساختمان او حفظ ومراقبت يې زيات وخت ته ضرورت لري. په دې ډول سړکونو کې نظر د اوربښت زياتې اندازې ته بايد دقيق دريناژونه په نظر کې ونيول شي.

### ⇐د سړکونوانواع نظردهغوي قيمت ته:

#### ۱) ارزان سړکونه (Low Cost Roads) :

دا سړکونه په دوه ډوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**1- خاکي سړکونه**

**2- جغل داره سړکونه.**

**1- خاکیسړکونه:** ددي ډول سړکونو سطح خاکي وي او ترافیک په خاکي بستربانديِ تګ او راتګ کوي. ددي ډول سړکونو څخه معمولاً په هغه ځایونو کې چې د ترافیکو تعداد کم وي استفاده کیږي. دا ډول سړکونه باید محکم او دوام داروي اودکال په ټولوموسمونه کې باید قابل استفاده وي. نوموړي سړکونه په دوه ډوله دي.

**a – طبعي سړکونه**

**b – جوړ شوي سړکونه**

**a- طبیعیسړکونه:** د طبعي خاورو څخه جوړشوي او زیات لوړې او ژورې لري او د ضرورت په وخت کې ورڅخه استفاده کیږي ، دایمي سړک نه دي. هرکله چې یو موټر په یوه دشته کې حرکت کوي ، د هغې خط السیر د نورو بعدي عراده جاتو لپاره طبعي سړک بلل کیږي. نوموړي سړکونه دوامداره نه وي او اکثراً د جوي تاثیراتو له امله ختمیږي.

همدارنګه هغه ډول سړکونه چې د هغوي په جوړولو کې د سړک ماشین آلاتو څخه استفاده نه وي شوي او د هغوي کندنکاري او ډکون دلاسی بیلچې اوکلنګ پواسطه شوي وي نو دي ډول سړکونو ته هم طبعي سړکونه ویل کیږي.

**b– جوړشوي سړکونه:** د هغه سړکونو څخه عبارت دي چې د شګې، ختې او جغل څخه جوړشوي وي او دسړکجوړونې ماشین آلاتو یعني رولر پوسطه ټپک شوي وي. ددي ډول سړکونو ساختمان آسانه دی ، شګه ، جغل او خاوره سره ګډوي او د 10cm په ضخامت طبقه اچوي او وروسته د رولر پواسطه ټپک کاري کیږي. د رولر د کار په جریان کې مؤرد نظر ساحه آبپاشي کیږي. د رولرکاري په جریان کې باید د سړک د میلان جوړولو ته توجه وشي. هر کله چې د جغل اندازه د 10cm څخه زیات وي نو په دې صورت کې نوموړي جغل په دوه طبقو اچول کیږي. او هره طبقه یي په جداګانه شکل ټپک کاري کیږي. په هغه صورت کې چې خام سړکونه د هموار اراضي څخه تیریږي نو د کندنکاري او پرکاري حجم هم کم وي نو همدي دلیل ددي ډول سړکونو کار هم کم وي.

**2- جغل دارسړکونه :** نوموړي سړکونه د ارزان قیمت سړکونو له جملي څخه دي. د سړک د پخولو په منظور د جغل سرو ٪ 26 او ٪13 خاوره ګډوي ترڅو سخت او جغل مواد سره محکم کړي.

د نوموړو سړکونو نهایي قشر په دوو طبقو جغل اندازي ، آبپاشي او رولرکاري کیږي. د سړک دریناژ او شکل باید د ډیزاین مطابق جوړشي. هرکله چې جغل د خاورې سره ښه مخلوط نه شي او ټپک کاري په ښه ډول ترسره نه شي نو په دې صورت جغل د عراده جاتو د تلې پر لاندي واقع کیږي چې په نتیجه کېترافیکي مشکلات رامنځته کیږي. د سړک د سطحي ضخامت د (15-30)cm پوري وي چې د جغل داره موادو څخه چې د جغل قطریي د(6-36)mm پورې وي جوړیږي.

**a. د متوسط قیمت لرونکېسړکونه:**

عبارت د هغه سړکونه څخه دي چې د هغوي سطحي قیرریزي شوي وي. ښهري سړکونه په عمومي ډول د همدغه ډول سړکونو له جملي څخه دي.

**b. د زیات قیمت سړکونه :**

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې د هغوي سطحه کانکریټ شوي وي. دا ډول سړکونه په خاصو ځایونو کې جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

⇐ د سړکونو اقسام نظرد هغوي موقعيت او هدف ته :

a. ملي سړکونه – National Highways
b. آيالتي سړکونه – State Highways
c. ولسوالي سړکونه – Districts Roads
d. کليوالي سړکونه – Village Roads

a) ملي سړکونه : National Highways

عبارت د هغه ډول سړکونو څخه دي چې مملکت طولاً او عرضاً د پايتخت (مرکز) سره وصلوي. او همدارنګه نوموړي سړکونه مملکت د همسايه مملکتونو سره وصلوي. نوموړي سړکونه د څو لينونو لرونکې وي چې د هر لين عرض اقلاً 8m وي او د شولډر اصغري عرض يې 2m وي.

په دې ډول سړکونو کې فني او تخنيکي موضوعات او حتي د ساحي ښکلا هم په نظر کې نيول کيږي. ددي سړکونو د فرش سطحه د ډيزاين له نقطي نظره د ساختماني موادو او د ترافيکو د حجم تابع دي.

b) آيالتي سړکونه : State Highways

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې لوي ښارونه سره وصلوي. ان يا لوي ښارونه د ملي سړک سره وصلوي. ددي ډول سړکونو په جوړولو کې لکه د ملي سړکونو پشان ټول انجنيري او ترافيکي مقررات په نظرکي نيول کيږي. نوموړي سړکونه اکثراً دوه لينه يوطرفه وي چې عرض يې د شولډرونو د عرض په شمول 12m وي.

c) ولسوالي سړکونه : District Roads

هغه ډول سړکونه دي چې واړه ښارونه او واړه ښاورنه د لويو ښارونو سره وصلوي د ساختمان د نقطي نظره د ملي او ايالتي سړکونو څخه وروسته دي. د نوموړو سړکونو ساتنه او مراقبت د منطقې د ښاروالي له طرفه صورت نيول کيږي. نو نوموړي سړکونه په دوه فرعي کټګوريو ويشل شوي.

1- اساسي او ولايتي سړکونه: Major District Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې شکل او نوعيت يې تقريباً ايالتي سړکونو په شان دي. عرض يې 9m وي او په هغه صورت کې چې د کوهستاني مناطقو څخه عبورکوي، عرض يې 4.75m وي پلاندي شکل کې ددي ډول سړکونو مقطع ښودل شوي.

2- فرعي ولايتي سړکونه :

عبارت دهغه سړکونو څخه دي چې د ساختمان او ظاهري شکل له نقطي نظره د ايالتي سړکونو څخه وروسته کټګوري کې راځي. که يو لينه وي عرض يې 7.5m وي او که دوه لينه وي عرض يې9m وي که نوموړي سړک په غرني مناطقو کې وي عرض يې 4.75m وي.

کليوالي سړکونه : Village Roads

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چې کلي سره وصلوي او د يو لين لرونکې وي چې عرض يې 7.5m وي. او په کوهستاني مناطقو کې ددي ډول سړکونو عرض 4m وي. ددي ډول سړکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوع او ساختمان د مملکت په اقتصاد پوري اړه لري او بعدي حفظ او مراقبت يي د منطقي د ښاروالي پوري مربوط وي.

## سړکونو ډولونه نظرد هغې سختی ته:

⇐ په عمومي ډول ټول سړکونه نظردهغوي سختي ته په دوه ډوله دي.

a) سخت سړکونه : "Rigid Roads"

b) ارتجاعي سړکونه : "Flexible Roads"

a) سخت سړکونه : "Rigid Roads"

عبارت د هغه سړکونو څخه دي چي فرش يي کانکريټ وي. ددي ډول سړکونو د فرش ترکيبي اجزاء عبارت دي له: شګه ، جغل ، سمنټ او اوبو څخه حتي په بعضي حالاتو کي سيخ هم ددي ډول سړکونو په فرش کي استعمالوي. دا ډول سړکونه معمولاً د نظامي اهدافو لپاره جوړيږي. د مالي له نقطي نظره دا ډول سړکونه غيراقتصادي دي. مګر عمر يي زيات او ژر نه تخريبيږي. او د بهره برداري مدت يي زيات وي.

b) ارتجاعي سړکونه : "Flexible Roads"

د کانکريټي سړکونو څخه علاوه نور د سړک ټول ډولونه ارتجاعي يا نرم سړکونه وي. ارتجاعي يا نرم سړکونه چي ورته اسفالټ کانکريټ هم وايي چي ترکيبي اجزاء يي شګه ، جغل ، منرالي پوډراو مايع قيروي. منراليپوډر د مخلوط د چسپش لپاره استفاده کيږي او نوموړي پوډر د دولومايت تيږې څخه لاسته راځي.

د اسفالټ کانکريټ سړکونو جوړولو نظرکانکريټي سړکونو ته اقتصادي دي. خو عمر يي کم او زيات حفظ او مراقبت ته ضرورت لري.

## د اسفالټ کانکريټ فرش نواقص:

1) د وسايطو د حرکي قوي له اثره اسفالت ځان تولوي او د تخريب باعث ګرځي.

2)د اسفالټ مقاومت د اوبو او باران په مقابل کي کم دي او ژر تخريبيږي.

3)د حرارت د درجي تغير په هغه سړکونو چي فرش يي اسفالټ وي د موجونو.

جوړيدو باعث ګرځي چي په دې صورت کې چلونکي بايد په دغسې ځايونو کې خپل سرعت کنترول کړي.

دسړک فرش دسړک دساختمان اخرى برخه ده چى دمتراکم شوى خاورې ياپرکارى شوى خاورې اويا هـم کنـدنکارى شـوى خـاورى دپاسـه جـوړيږى دسـړک دفـرش پـه نـوم يـاديږى.

دسـړک د فـرش سـاختمان دغيراسـفالتى موادولکـه خاورې،جغـل،تيږو،اوبتن څخـه اوهمدارنکـه دکـانکريتى اواسـفالتى موادوڅخـه اويـاهم ددوى لـه ترکيـب څخـه جـوړيږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسړک فرش دهغی داساس اوپوښښ ځخه ترکیب شویدی چی دسړک پوښښ دپورتنۍطبقي ځخه عبارت دی چی دموټردټایرونودمستقیم تماس لاندې واقع کېږی نوموړی برخه دسړک دبهره برداری په وخت کی سولیږی اوتغیرات په کی رامینځته کېږی دابرخه بایدهمواره ،ښوی اودموټردټایرسره کافی چسپش ولری.

دسړک اساس دفرش ځخه لاندې قرارلری چی دموټروځخه پوښښ ته انتقال شوی بارذي برخي ته نقلیږی اونوموړی طبقه بایددسړک دفرش ثبات اومقاومت تأمین کړي.

ځرنګه چی دموټردحرکت په وخت کی دسړک دپاسه افقی اوعمودي قوې واردیږی چی افقی قوې دسړک دپاسه دموټرودبریک نیولواولغزش په وخت کې په شدت سره واردیږي.

اوعمودي قوې دعراده جاتودوزن له اثره په سړک واردیږی.دافقی قوې په وخت کی دسړک په سطح کې امواج رامینځته کیږی اودسړک دسطحي دموادودسولیدوسبب ګرځي.

عمودی قوه دسړک دسطحي ځخه دهغي بدني ته انتقالیږی چی دهغي دښکته کېدني (نشست) سبب ګرځي ځوځلي دبارتکرار دسړک دپاسه دهغی دمقاومت دضعیفوالی اوتدریجی تغیرشکل سبب ګرځی.نوبناًدسړک دفرش مقاومت بایددوارده بارونودانداز‌ې ځخه زیات وی اولاندني طبقات کېدای شی دکمومقاوموارزانه محلی موادوځخه جوړشي .

دسړک دساختمان ضخامت په لاندېول ښودل شویدی.

کرش جغل چی دسینددتیږوځخه په لاس راغلی وی دچسپناکوموادوسره 8cm ضخامت

کرش جغل چی دقیرپواسطه غنی شوی وی 4-8cm ضخامت

دسمنټویاچونی پواسطه تحکیم شوی خاوره10cm ضخامت

دسیندجغل 10cm ضخامت

دسړک جوړولو په وخت کی بایدکوشش وشی چی دسړک دلا ندنیوطبقاتوضخامت زیات شی ترڅودراتلونکوترافیکودرشدلپاره کفایت وکړي اودسطحي طبقي په تبدیلولوسره په آسانی سره نوی سړک اعمارشی. دسړک دپوښښ نوعي کوم چی په محلی سړکونوکی ترې استفاده کیږی په لاندې ډول دي:

## ۱.اپتدایي پوښښ یاساده پوښښ:

دمحلی سړکونوساده پوښښ دخاورې ځخه عبارت دی چی په ترکیب کی نورموادلکه جغل ،ریګ،دداش پاتي شوني،دخښتوټوټې،سنګچل ،کرش،سوی تیږې اودویلي شوي اوسپني پاتي شوني اونورموجودوی.

داډول سړکونه کله دعراده جاتودعبوراومرورلاندې واقع کیږي زیات ګردونه اودوړې تولیدوی چی دژمي اوپسرلي په موسم کی دعراده جاتودعبوراومرورقابلیت کموی نواکثراًداسړکونه موقتی جوړیږی یاداچی په هغه سیموکی چی دترافیکوحجم کم وی اعماریږی داډول سړکونه دداس شکل لری اوپه ځنګونوکی مثلثي ویالې لري چی دسړک کیمبرمیلان ٪۲-٪۳اودپیاده رویه برخه کی ٪۵-٪۳ پورې قبلیږی ددی ډول سړکونوموادخاوره ده چی ډیره میده خاوره ددې ډول سړکونو لپاره مضره ده ځکه چی دلوندوالی په وخت کی پرسیږی اوکله چی وچیږی نوبیامنقبضیږی نوپه کافی اندازه بایدریګ اولوی دانه ذرات ولری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (1-1)نمبر جدول دسړک داساس فرش دخاورې ترکیب

| اساس | فرش | فهرست |
|---|---|---|
| 60-80% | 65-80% | ریګ |
| 5% کم له | 10-18% | درس خاوره |
| 35% کم له | 35%کم له | داوېواندازه |
| 6% کم له | 4-10% | دشکل نیولیا نرمش |
| 12-20% | 4-20% | منقبض کیدل |
| 5% | 50% | عمودی انقباض |

## 2. عبوری نوع پوښښ:

داډول پوښښ دچسپناکوعضوی موادوڅخه لکه قیراو قیرایمولیشن ،قطران ،لږ غلیظ قیراوغلیظ قیرچې مارکونه یې دادي :B-H-D 130/200, B-H-D 200/300

نظردمنطقې شرایطوته په کاروړل کیږی.ددرندوموادولپاره غلیظ قیردسپکواوهغومناطقو

لپاره چې ګرمې وی رقیق قیرپه کاروړل کیږی.دعضوی چسپناکوموادوپواسطه په تحکیم کاری کی توصیه کیږی چې دموادودانوسایزباید۲-۵۰ملی مترپه اندازه د۵۰٪څخه زیات نه وی همدارنګه ریګ لرونکی خاوره مناسب موادډي چې دخاورې نرمی یې باید ۳-۱۲پورې وی.دخاورې دمقاومت دلوړولولپاره چونه مناسب موادډي چې نه یوائې دخاورې مواد ښه کوی بلکه دچسپناکوموادوسره دهغې مخلوط هم اسانه کوی.

که دوچې خاورې دوزن د۲٪-۴٪ پورې علاوه شی نودقیرمصارف د۴۰٪-۳۰٪په اندازه کموی اوخاورې ته داولنې حالت څخه دوه برابره محکمیت وربښی.

## ۳.دسمنټویاچونې پواسطه غني شوی دسړک طبقه:

دغیرعضوی چسپناکوموادوڅخه سمنټ اوچونه (اوبه نه رسیدلی،مړه) دسړک دسطحی دتحکیم کاری لپاره په کاروړل کیږی. ټول موادپه استثناددروندجغل لرونکی خاورې چې دنرمی درجه یې ۲۷څخه لوړه اودخاورې فیصدی یې د۳۰٪څخه زیاته اویاداچې دمنحل مالګولرونکی وی دسمنټواوچونې پواسطه تحکیم کاری کړو.

دسړک ترټولومقاومه طبقه دوارده باراوديخ په مقابل کی هغه طبقه چې دسمنټوپواسطه تحکیم کاری شوی وی.

دچونې پواسطه تحکیم کاری په هغومناطقوکی صورت نیسی چې درطوبت اندازه کمه وی.

دساختمان داقتصادیوالی لپاره دچسپناکوموادوپه حیث دسمنټی تیږودمیده ګیوڅخه کاراخیستل کیږی چې دسمنټودوزن ۵۰٪په پام کی نیول کیږی دسړک هغه طبقه چې په یوځل سره تیک کاری کیږی نه بایدد15cmڅخه زیات ضخامت ولری ځکه چې په ددقیق ډول تیک کاری صورت نه نیسی.

۴.دمحلی کم مقاومته موادوپه واسطه تحکیم کاری شوی پوښښ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

په محلی سړکونوکی کولای شوچی دغیرمطبوع منرالی موادوڅخه لکه دضعیفی چونی تیږو،ریگی تیږو اودصدف تیږوڅخه کاراخلو.ددی دتحکیم لپاره دعضوی اوغیرعضوی چسپناکوموادوڅخه لکه نفتی قیر،قطران،ذغال سنگ ،دړانده اوخام نفت اودطبیعی قیروڅخه استفاده کیږی.

## ۵..جغلی پوښښ:

دجغل دموجودیت له امله چی په هرځای کی اوپه اسانی سره پیداکیږی دسړکونوپوښښ له دې ډول موادوڅخه جوړیږی. هغه جغل چی په دې طریقه کی په کاروړل کیږی بایدپه کافی اندازه دمناسبودانوسایزلرونکوموادوباندی مشتمل وی. داسی توصیه کیږی چی په دی ډول سړکونوکی 20-30% نظردجغل وزن ته بایددکرش لرونکی وی ترڅودسړک دمقاومت دلوړوالی سبب وگرځی .

(1-3) شکلدجغلی پوښښ ساختمانی شیماً



(1-4) شکلدجغلی سړک دتپک کاری شیماً

دجغلی پوښښ څخه زیاته استفاده نه کیږی ځکه چی دعراده جاتودشدیدحرکت په وخت کی یوه اندازه ضایع کیږی اوپاشل کیږی اکثره دجغل کیفیت ښکته وی په سختی سره تپک کاری کیږی اوتپک کاری یی داعتمادوړنه وی نوځکه استحکام اودوام نه لری اوژرله مینځه ځی .په هغومناطقوکی چی دباران اووا‌وریِ اندازه زیاته وی نودجغل ضایعات هم زیات وی په وچومناطقوکی داوړی په موسم کی دعراده جاتودحرکت په وخت کی دخاورې ذرات له سړک څخه لیری کیږی اودجغل ارتباط له خاورې سره کمیږی نودجغل ارتباط له خاورې سره کمیږی په نتیجه کی دسړک څخه دجغل دضایع کیدوسبب گرځی.

دعراده جاتودشدیدحرکت له وجی جغلی فرش تخریبیږی په هغه صورت کی چی دعراده جاتوشمیرپه ورځ کی د200 څخه زیات وی نودسړک دترمیم مصارف لوړیږی.

جغلی فرش په هغه مناطقوکی چی دکلنی اورښت اندازه یی 2000mm/year یازیات وی نومناسب نه وی.

حفظ اومراقبت یی هم لوړتمامیږی په هرځل سره بایدگریدرکاری اوشکل ورکړل شی .

دجغلی موادوترکیب په لاندی جدول کی ښودل شویدی .

| مخلوط | دجالی دخالیگاواندازه په ملی متر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 70 | 40 | 20 | 10 | 5 | 2.5 | 0.63 | 0.25 |
| | دذراتومقدارچی دجالی څخه تیریږی په فیصدی سره | | | | | | | |
| لوی دانه ذرات دپورتنی | - | 100 | -90 | -65 | -55 | -45 | -35 | 7-20 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| طبقاتولپاره | | | 60 | 45 | 30 | 20 | 15 | |
| متوسط دانه ذرات دپورتنی | - | - | -95 | -90 | -75 | -65 | -45 | 8-25 |
| طبقاتولپاره | | | 80 | 65 | 50 | 35 | 20 | |
| کوچنی دانه ذرات دپورتنی | - | - | - | -100 | -85 | -75 | -55 | 8-25 |
| طبقاتولپاره | | | | 90 | 70 | 45 | 25 | |
| متوسط دانه ذرات دلاندینی | 100 | -60 | -40 | -35 | -25 | -15 | 5-10 | 30 |
| طبقاتولپاره | | 40 | 20 | 20 | 15 | 10 | | |
| لوی دانه ذرات دلاندینی | 100 | -80 | -60 | -60 | -30 | -25 | 5-15 | 0-5 |
| طبقاتولپاره | | 60 | 40 | 40 | 20 | 15 | | |

## ۶.سمنتی پوښښ لرونکی سړک:

داډول پوښښ دقیروپه شان په اول اودوهم کټګوري سړکونوکی په کاروړل کیږی په هغه صورت کی چی دسړک دپاسه هجوم زیات وی نوپه دریم کټګوری سړکونوکی هم په کاروړل کیږی .داډول پوښښ نظردهغوی مقاومت ته چی دوارده فشاری قووپه مقابل کی یی لری په نړی کی ډیره زیاته استفاده ورڅخه کیږی.

داډول پوښښ ځنی ګټی لری داچی مقاوم اودوامداره وی کله چی په اساسی شکل اعمارشی نوتر30 کلونوپوری بیا اساسی ترمیم ته اړتیانه پیښیږی.

دزیات وخت لپاره دمصارفوبیغیرخپل کیفیت ساتی.بل داچی دموټردټایرسره ښه چسپش کوی اګرکه سړک مرطوب هم وی.

ددی ډول سړکونونواقص دادي چی دحرارت ددرجی په تغیراودموټرددینامیکی فشارپه تغیرسره یی شکل تغیرکوی چی دسفرپه وخت کی دافرادودناراحتیاسبب ګرځي.

ددی سړکونوترمیم مشکل دی اوزیات وخت اومالی لګښت ته اړتیالری.

دیخ بندی په وخت کی دزیات وخت لپاره یخ دسړک دپاسه موجود وی چی دترافیکودحرکت په وخت کی مشکلات ایجادوی.

په اوسنی وخت کی ددی ډول سړکونوددرزونودمخنیوی په خاطراوسپنیزکانکریټی سړکونو په ډول چی بایددمحکم،همواراساس دپاسه قرارولری جوړیږی.

کانکریټی دسړک فرشونه په ساحه کی دیوریخت په شکل اوهم په فابریکه اي ډول جوړیږی اوپه ساحه کی منتاژکاری کیږی.خوداډول سړکونه په هغه مناطقوکی چی ځنګلات ولری یاداچی تیږی کم لیدلی کیږی اوځمکه مرطوبه اوسسته اعماریږی.

داډول سړکونه بایددانقباض اوانحناپه مقابل کی لوړمحکمیت ولري اودموټرودحرکت له وجې بایدتغیرشکل ونه کړي.

ددی ډول سړکونودکانکریټومارک نظردمنطقی یخ بندان اودحرارت درجی ته ټاکل کیږی.

| | | |
|---|---|---|
| C° at 0-10 | at 10-20 | at 20-10 |
| 100 | 150 | 200 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغومناطقولپاره چی ساړه وی اوسط دحرارت درجه تر10c°- پوری رسیږی دکانکریټومارک 50 قبلیږی اوهغه مناطق چی ډیرساړه وی نوفعال محلولونه نظردکانکریټووزن ته علاوه کیږی.

### (1-5)جدول داړتیاوړمحلولونه چی دکانکریټومقاومت دیخ په مقابل کی لوړوی

| دمحلول دمقداردمخلوطولوطریقی | دفعال محلول مقدارنظردسمنټووزن ته په فیصدی سره | دفرش په مخ دفعال محلول اضافه کول |
|---|---|---|
| دمحاسی په پام کی نیولوسره دوچوموادومخلوط | 0.15 – 0.25 | سلفاید |
| | 0.08 – 0.05 | ملیو نفت |
| دمحاسی په پام کی نیولوسره ملیو نفت داوبوسره. | 0.08 – 0.05 | امولشن |
| اوبه 50% – 45 | 0.01 – 0.025 | نائتریت پوډر |

## دوهم فصل

### دسرک موقعیت لپاره انجینري سروي

### *Engineering survey for high way location*



(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکی له دې چي دمسير تعين پای ته ورسيږی بايد دسړک په پروژه کی انجنيری سروې ګاني ترسره شي .

انجنيری سروې 4په څلورو مرحلوکی صورت نيسی چه په لاندي ډول خلاصه کيږی :

## دنقشی مطالعه Map study

1. دتفتيش سروې يا تخنيکی سروې Reconnaissance .
2. مقدماتی سروې Preliminary survey
3. دنهائی موقعيت يا مفصله سروې Final location and detail survey

په دفترکی دساحی د توپوګرافي نقشي څخه کولی شوچه دمورد نظر سړک موقعيت معلوم او مطالعه کړوڅومسيره په هغه کی په نظرکی نيسواوپه اخرکی هغه مسيرچی لنډاواقتصادی مشخصه ولری انتخابوو.خو تخنيکی سروې د سروې ديو مشخص تخنيکی ګروپ پواسطه په تعين شوی مسير کی اجرا کيږي دنوموړی سروې لپاره ځينی ساده آلات ( ماشينونه) لکه ليول (Level) تيودوليت ، total station(TS),ترانزيت G.P.S، او داسي نور په کار وړل کيږی تقريبی ډاټااوقيمتونه په لاس راوړل کيږی لکه ميلان ،دافقی ګولايی شعاع دسيلاب اعظمی نشانی،دمعبرونوتعداد،په ساحه کی دساختمانی موادوموجوديت،دباران اندازه ،دتپوميلانونه،دځمکنی کارونومقدار،اوداسی نور. که چيری ساحه ډيره پراخه اووخت کم وی نونوموړی سروی دهواله لاری اجراکيږی.

په مقدماتی سروې کي په ساحه کي دمرکزی خط تثبيت ( دتريورس تعين) دساحی توپوګرافيکی خواص ، ليول کاری،دميلان جزيات ،دديدفاصلی،دګولايانومشخصات، هايدرولوژيکی معلومات او دخاوری پيژندنی سروې شامل دی داکيدای شی چی دوسايلواوياډهوايی عکسونوله لاری صورت ونيسی.

په تفصيلی سروې کی دساحی مفصل معلومات ترلاسه کيږی په ساحه کی د مؤقت Bench mark تعينول د300M -500M په انتروال کی او نظر دساحی (اراضی) شکل ته دساحی ليول کاری چه ډير داهميت وړ کاردی ترسره کيږی.

په دغه سروی کی په ساحه کی دسړک مرکزی خط center line دعلايموپه واسطه مارک اونشانه کيږی دسړک په مسيرکی دمقطع دتغيرپه وخت کی په مناسبوموقيعتونوکی عرضانی اوطولانی مقطع اخيستل کيږی خلاصه داچي ټولی توپوګرافی نماوې په پلان تبل کی سروې کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دسړک دمسیر سروې
## High way Alignment survey

-:

دسړک دمرکزخط Center Line تثبیت کول د پلان له مخی د ځمکی پرمخ عبارت دسړک دمسیر ځخه دی .

(Straight path) او افقی برخی Horizontal curvesشامل دی.

دسړک مسیر باید لنډShort ساده easy ، مطمئنSafe او اقتصادی Economical وی او همدارنګه باید کوشش وشی چه کم ساختمانونه موجود وی دسړک په مسیر کی هغه نقطه چه مرکزی خط خپل مسیر ته تغیر ورکوی یعنی یوزاویه تشکیل کیږي د PI یا Inter section paint په نوم یادیږي . چه نوموړی زاویه د تیودولیت پواسطه قرأت کیږی او هر PIباید نمبر ګذاری شي او لاری ترمنځ فاصله هم اندازه شي دسړک دمرکزی خط دثبت کولوستیشنونه په معینوفاصلوکی 50m-100m چی داراضی په نوعیت اودکاردحساسیت په درجه پوری اړه لری دځمکی په مخ نشانه کیږی.

## دسړک طولی او عرضی (پروفیل) سروې
## Long profile and cross section survey

دسړک طولی پروفیل دسړک د مرکزی خط د نقاطو ارتفاع دبحر دسطحی ځخه عبارت دی چه په معین فاصلو $(25\text{-}100)_M$ د نقاطو ارتفاعات اخیستل کیږي .

دسړک عرضی پروفیل Cross section هم دنقاطو ارتفاعات نظر دبحر دسطحی ځخه دي مګر علاوه د مرکزی خط ځخه دسړک دواړو خواوته هم ځینی نقاط اخیستل (3-6) کیږی ترڅو دسړک وضعیت معلوم شی او د همدی عرضی مقطع له مخی د سرک لپاره هموراه سطح تعین کیږی (مناسب ډیزاین نظر مقطع ته اجرا کیږی) او هم دځمکنی کارونو Earth work یا کندنکاری، پرکاری (Cut and fill) احجام لاس ته راځی. په عرضی مقطع کی باید دسړک دواړو خواو ته د آب رو‌ونو(side drainage) په خاطر نقاط واخیستل شي تر څو دډیزاین په وخت کی په نظر کی ونیول شي .

عرضی مقطع نظر د اراضی شکل ته او دسړک اهمیت ته وروسته د $(10\text{-}25\text{-}60\text{-}100)_M$ ځخه نقاط اخیستل کیږ

### ترافیکي سروې



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Traffic counting survey

ترافیکی سروې یا ترافیکی حجم عبارت دعراده جاتو دتعداد څخه چه دسړک دیوی مشخصی برخی څخه په فې واحد وخت کی تیریږي .

د ترافیکی حجم دپیدا کولو لپاره دوخت واحد معمولاً $\frac{Vehicles}{day}$ او $\frac{Vehicles}{hours}$ دی.

یعنی ترافیکی حجم په 24 ساعتو او همدارنګه ساعت وارد محاسبه کیږی او هر نوع عراده جات جداګانه شمیرل کیږي البته وخت رفتOut put ، آمدIn put او دواړه Standعراده جات ترافیکی سروې په مختلفو وختونو لکه هفته وار، میاشتنی، فصلنی او کلنی ارقام مطالعه کیږی همدارنګه وروسته دهر 5 کالونو څخه باید ترافیکی سروې اجرا شي .

ترافیکی سروې لاندی هدفونو لپاره اجراء کیږي :

1. دسړکونو ارتباط ورکول Wider net work
2. دسړک د(هندسی)ډیزاین لپاره For road design
3. دسړک دموټر رو برخی ډیزاین Pavement design
4. د لینونو دتعداد دتعین لپاره Climbing's lanes
5. دڅوکونو دډیزاین لپاره Pedestrians pied cross
6. دسړک دپاسه دساختمانونو ډیزاین Structure design

د ترافیکی سروې څخه هدف دډیزاین لپاره عمده ارقام دی چه باید ترسره شی.

زمونږ دنظروړ سړك دترافيكي سروې ارقام له بده مرغه دشرايطودخرابوالی له امله موونه شوای کړی چی دساحی څخه دقيق په لاس راوړو ولې ددې سره سره څرنګه چې په افغانستان کې هيڅ سړك د 450 عراده جاتو څخه کمي اندازې ته نه ډيزاين کيږي بناءً په تخميني ډول مونږدنوموړي سړك لپاره دترافيكي سروې رقم 530 Vehicle/day په نظرکې نيسو.

څرنګه چې دسړک طبقات دترافیکو دحرکت لپاره ډیزاین کیږي پس لازمه ده چې معلوم کړو چې څومره اوکوم ډول ترافیک ددې سړک دپاسه حرکت کوي ځکه چې ترافیکي سروې دسړک دلینونودعرض اوتعداد،دطبقاتودضخامت اوهمدارنګه دهغې دهندسي اجزاوودډیزاین لپاره ضروري ګڼل کیږي.

دسړک لپاره باید لږترلږه د اووه ورځو دترافیکو سروې ترسره شي او بیا دهغې دترافیکو اوسطونیول شي چې دادسړک په اهمیت پوري اړه لري دلویوښاهراوولپاره ضروري ده چې داوورځودقیقي سروې ارقام په لاس راوړل شي.څرنګه چې زمونږدپام وړسړک معمولي سړک دی اوداهمیت له پلوه هم دریم درجه یادولسوالي سړک ګڼل کیږي نوموړی محترم استاد په رهنمایي سره ددریو ورځو لپاره نوموړي سروې ترسره کړیده.چې په لمړی ورځ362لوی اوواړه ترافیک ،په دوهمه ورځ346ترافیک اوپه دریمه ورځ 335ترافیک حرکت کوي چې اوسط يي 348لوی او واړه ترافیک تشکیلوي.

دنوموړي سړک لپاره دلسوراتلونکو کلونو په جریان کې لاندې اندازې دترافیکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سروې کې په نــظر کې نیسو

1) مو جو د او جذب شوی ترافیک : چې اندازه یي په لانــدې ډول پیدا کوو:
قبلوو:8%جذب شوی ترافیک

2) دترافیکو طبیعي رشد:یعني ترافیک دنفوس په زیاتوالي اوپه اقتصادي تغیرسره په طبــیعي ډول سره زیاتیږي.
چې نوموړې اندازه مونږ 25%په نظرکې نیولې ده.

3) ترافیکي وسعت:کله چې سړک جوړیږي نو خلک تشویقیږي ترڅو له نوموړي سړک څخه ګټۀ واخلي یعني هر څوک کوشش کو ي چې موټر ولري اودعصرى سهولتونوڅخه برخمن وی.
چې دغه اندازه مو نږ 30%نیولې ده البته نوموړې فیصدي دخلکو داقـــتصاد او تقاضا په نظر کې نیـــولو سره ټاکل کیږي.

4) دترافیکو زیاتوالی د ځمکو د ابـــادی په صــــورت کې : دغه فیــصدې مونږ 0%فرض کوو ځکه چې په راتلونکودوو لسو کلونوکې دلته کومه ابادي امــکان نلري.
دترافیکو دپیش بینی فکتور

دپورتنیو فیصدیګانو مجموعه دترافیـــــکو دپیش بینی فکتور بلــل کیـــږي.

8%+25%+30%=63%

پس دترافیکو تعدا دپه دوولسو کلو نو کی:

348*(100+63)/100=568 v/day

په لاس راځي. چې ددغه ترافیکو لپاره مونږ ډیزاین په مخ وړو.

ددریو ورځو دترافیکو سروې په راتلونکو صفحو کې ځاې په ځــــــاې شویده.

## High way Alignment survey

## دسرک مسیر*Alignment*:

دسرک دمرکزي خط (center line) ټاکل دنقشی له مخی دځمکي دپاسه دسرک دمسیر څخه عبارت دي.

دسرک مسیر دسرک دافقي پلان څخه عبارت دي چې پــه هغي کي دسرک مستقیمه برخه شامله ده (Straight Path) اوافقي برخي (Horizontal Curves) شاملي دي.

افقي مسیر دمستقیمو اومنحنـي لارو څخـه اوعمـودي مسیر دارتفاعـاتواومیلانونو څخـه عبارت دي مسیر ګذاري دسرک لپاره د اساسي اومهمومراحلو څخه یوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبد مسيرانتخاب دسرک جوړولو دحفظ اومراقبت او (Vehicle Operation) قيمت زياتوي.

دسرک مسير بايد لنډ (Short) ساده(Easy) مطمن (Safe)اقتصادي اوهمدارنګه بايد کوشش وشي چي کم ساختمانونه موجود وي.

دسرک په مسير کي هغه نقطي چي مرکزي خط پکی خپل مسيرته تغير ورکوي يعني يوه زاويه تشکيل کيږي د (PI) يا Inter section په نوم يادېږي چي نوموړي زاويه دتيودليت په واسطه قرآت کيږي اوهر (PI) بايد نمبر ګذاري شي اوددوي ترمينځ فاصله هم اندازه شي.

ديوښه مسير د انتخاب په خاطربايد لاندي نقاط دمسير ګذاري پروخت يادولرو.

a. مسير بايد حتي الامکان مستقيم وي چي داکار دسرک جوړولو،حفظ او مراقبت اود (Vehicle Operation) قيمت راکموي.

b. دمسيرګذاري پروخت کوشش وشي ترڅو مسير د مذهبي،تاريخي،تفريحي اوعامه تعميراتو لکه مکتبونه،کلينيک،دلوبوميدانونه اوداسي نوروڅخه تيرنشي.

c. مسير دداسي ځايونوڅخه تيرشي چيرته چي ځمکه دکافي محکميت لرونکي وي اوکندنکاري اوپرکاري پکي اضغري وي.

d. مسير بايد دهغه نقطو څخه چيرته چي دسيند پواسطه دتخريب امکانات زيات وي تير نشي.

دسرک طولي سروي يا پروفايل دسرک دمرکزي خط دمختلفو نقاطودارتفاعاتو څخه عبارت دي کوم چي په ټاکلو فاصلو(100 – 25) mکی اخيستل کيږي.

دسرک عرضي پروفيل (Cross section) هم دنقاطو ارتفاعات نظردبحرد سطحي څخه دي مګر علاوه دمرکزي خط څخه دسرک دواړو خواوته هم ځيني نقاط (6m -3) اخيستل کيږي ترڅودسرک وضعيت معلوم شي او همدي عرضي مقطعي له مخي دسرک لپاره هوارسطح تعين کيږي (مناسب ډيزاين نظر مقطع ته اجراکيږي ) اوهم دځمکي کارونو (Earth work) يا کندنکاري،پرکاري (Cut and Fill) محاسبه لاسته راځي.

په عرضي مقطع کي بايد دسرک دواړو خواوته دSide drainage په خاطرنقاط واخسيتل شي تر څوددېزاين په وخت کي په نظر کي ونيول شي.

عرضي مقطع نظر د اراضي شکل ته اودسرک اهميت ته بعد د (100m - 50 – 25)څخه نقاط اخيستل کيږي

ترافيکي سروي يا ترافيکي حجم عبارت د عراده جاتو دتعداد څخه چي دسرک يو مشخص برخي څخه په في واحد وخت کي تيريږي دترافيکي حجم دپيداکولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

واحد معمولآ vehicles/hours دی

ترافيکي سروي په مختلفو وختونو کي لکه هفته وار،مياشتني فصل اوکلني فصل ارقام مطالعه کيږي.
همدارنګه بعد دهر پنځوکالونو څخه بايد ترافيکي سروي اجراشي.

ترافيکي سروي دلاندي هدفونو لپاره اجراکيږي.

a. دسرکونو ارتباط ورکول Wider network
b. دسرکنو هندسی اجزاوو ډيزاين. For Road Design
c. دسرک دموټر دبرخي ډيزاين Pavement Design
d. دلينونو دتعداد دتعين لپاره ډيزاين Climbing's lanes
e. دچوکونو ډيزاين
f. دسرک دپاسه دساختمانونو ډيزاين Structure Design

ترافيکی سروي څخه هدف دسرک ډيزاين لپاره عمده ارقام دي چي بايد ترسره شي.

دنقشي مطالعه

پدي ډول سروي کي دساحي توپوګرافيکي نقشه کتل کيږي اودسرک لپاره ممکنه لاري دهغي دپاسه په نښه کيږي

## دتفتيش سروی

دسروي اصلي هدف دمنطقي په اړه دمعلوماتو راغونډول اودهغه په خصوصياتو پوهيدل دي ترڅو د وړاندي تفصيلي معلوماتو په خاطر دتر تولو مناسب مسير انتخاب ترسره شي راغونډ شوي معلومات بايد دقيق او مناسب وي ترڅو دمختلفو لارو څخه جايزه ګټه واخيستل شي.
دتفتيش سروي په لاندي مرحلو کي ترسره کيږي.

a. دتوپوګرافيکي،زراعتي،جيولوجيکي او مطالعه.
b. دهوايي تفتيش سروي که چيري امکان ولري.
c. دځمکني تفتيش سروي.

## ابتداي يا لومړني سروي

## Preliminary Survey

دا ډول سروي د الاتو په واسطه ترسره کيږي. اصلي هدف يي دتولو فزيکي فکتورنو په هکله معلومات راغونډول دي کوم چي ديو نوي سرک په موقعيت تاثير لري که چيري ديو نوي سرک تيرول مطلوب وي دتفتيش سروی څخه دراټول شويو معلوماتو په مرسته دسرک لپاره دقيق تريورس ترتيبيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسروي پدي مرحله کي دساحي توپوګرافيکی عناصر لکه:کورونه عبادت ځايونه اوداسي نورو ځايونو موقعيت دترپورس سره ښودل کيږي دسرک طولي اوعرضي قطع اخيستل کيږي اودسرک په تول طول بينچ مارکونه په نښه کيږي په حقيقت کي داسروي دسرک دمرکزي خط لپاره اساس تشکيلوي.

پدي سروي کي دلاندي معلوماتو راغوندول اړين ګڼل کيږي.

a. دځمکي لاندي اوبو اعظمي سطحه داعظمي اواصغري سطحو ترمينځ توپير.
b. دسرک جوړولو په هکله دځيني خاصو مشکلاتو په نښه کول.
c. دکندن کاري په ساحو کي دتيږو طبيعت،دتيږو طبقاتو نواقص او داسي نور.
d. دپرکاري دتهداب په هکله معلوماتو لکه دنا پايداره طبقاتو موجوديت ضعيف دريناج (Marshy areas).

## دنهاي موقعيت سروي

## Final location Survey

په دي سروي کي د ډيزاين د دفتر پواسطه منتخب شيو مسير دځمکي پرمخ په نښه کيږي او دتفصيلي نقشو دتيارولو لپاره ضروري معلومات راغونديږي .

نوموړي سروي دلاندي مراحلو څخه متشکله ده.

a. دجيوديزيکي آلو په مرسته دسرک دمرکزي خط په نښه کول په ساحه کي.
b. دسرک په تول طول دليول کاري عمليه اجراکول.

### د سړک سروی او پلان ګذاری د لاندی دوه هدفونو لپاره ترسره کيږی.

1. په يوه ساحه کی د ولسوالی،ولايت يا مملکت د سړک يو معين طول ضرورت
2. په مرحله دی ډول د سړک د انکشافی پروګرام تهيه کوی

د لمړی هدف د لاسته راوړلو لپاره د يوی ساحی د ابتدای يا مقدماتی سروی ترسره کول حتمی ګڼل کيږی ځکه چی دا را ټول شوی معلومات د يوی ساحی د ضروريتونو په اتکلونو کی کومک کوی حقيقی معلومات $(Actul\ Data)$ د راټولو سروی بعضی وخت د حقايقو کی کومک کوی حقيقی معلومات $(Fact\ Finding\ survey)(Actul\ Data\ .\ survey)$ يا په نامه هم يادېږی.هغه پلان چی حقيقی معلوماتو په بنياد تهيه او ترتيب شی د آساسی او عملی پلان په نامه يادېږی.د راټول شويو معلوماتو د ساحی د سروی څخه د ساحی د اصلی : حقيقی حالت منعکس کوونکی وی نو نظر په معلوماتو نه پلان جوړ شی نو اشتباه نه واقع کيږی.

د ساحی سروی او د حقيقی معلوماتو راټولول لاندی مطالعات په بر کی نيسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. اقتصادی مطالعات
2. مالی مطالعات
3. ترافیکی مطالعات
4. انجینری مطالعات

## اول اقتصادی مطالعات

اقتصادی مطالعات لاندی مراحل څیړي:

1. په یوه منطقه کی د نفوسو مطالعه او دهغی زیاتوالی اندازه
2. د زراعتی او صنعتی محصولاتو اندازه او د هغی درجه بندی نظر د هغی د تولیداتو ساحی ته
3. په منطقه کی د موجوده زراعتی او صنعتی ودی اندازه او په راتلونکی کی د هغی پیش بینی
4. مواصلاتی $(Communication)$،تجارتی $(Commercial)$ او تفریحی اسانتیاوی او په راتلونکی کی د هغوی احتمالی پراخوالی
5. په منطقه کی د فی نفر عاید

## دوهم مالی مطالعات

په مالی مطالعاتو کی لاندی مسایل شامل دی

1. عایداتی منابع او د سړک څخه د استفادی په موده کی تخفیف محصول په لاندی راوړل
2. د منطقی د خلکو د ژوند د سطحی لوړول
3. په اینده کی د عایداتی منابعو پراخوالی او د خلکو د ژوند د سطحی څرنګوالی

## دریم ترافیکی مطالعات

ترافیکی مطالعات لاندی مسایل مطالعه کوی

1. د ترافیکی وسایطو حجم په یوه ورځ کی کلنی متوسطه حجم او یا هم د وسایطو هغه حجم چی په مصروف ترین ساعتونو $(Rosh\ Hours)$ کی د سړک د پاسه د پاسه سرېږی.
2. د ترافیکو او د وسایطو د سفر د شروع نطقه او د هغی فاصله د خپل موقعیت څخه
3. د وسایطو د جریان ډول یا ترتیب $(Traffic\ Flow\ Pattern)$
4. ټکرونه $(Accidents)$ او د هغی د مصارفو څیرنه او عوامل
5. آینده کی د ترافیکی وسایطه د زیاتوالی اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم انجینری مطالعات

په انجینری مطالعاتو کی باید لاندی مسایل موجود دی

1. د ساحی توپوګرافیکی سروی
2. د ساحی د خاوری سروی
3. د موجوده سړکونو موقعیت او درجه بندی
4. د سړک د عمر مطالعه
5. د هغه مسایلو او محصولاتو مطالعه چی د سړک د معبرونوکی رامنځته کیږی.او هم د سړک د اعمار او د هغی د ساتنی او څارنی (Maintenance) په وخت کی مشکلات رامنځته کیږی پس په اند کی ویلای شوه چی ټول هغه ارقام چی د سړکونو د پلانګذاری لپاره راټولیږی. د پورتنی مطالعات د حقایقو د معلوملو د سروی په نامه یادیږی (*Fact Finding Survay*) .

## « د پلانونو تهیه کول »

د سړک مسیر ته نهایی شکل ورکولو ځخه د مخه ټول هغه ارقام چی د حقایقو د محلومولو په سروی کی راټولیږی د پلان په شکل ښودل کیږی.معمولاً ددی هدف لپاره ځلور پلانونه چی منطقی ټول جزییات پکی ښودل شوی وی برابریږی.

I. پلان: عمومی پلان دی چی پکښی ټول موجوده تفاصل لکه توپوګرافی موجوده سړکونه ددړ ایناژ ساختمانونه لکه سیندونه،کانونه،ویالی او هم کلی او باندی سره د هغی د نفوسو د شمیر،تجارتی،او صنعتی فعالیتونه منعکس کوی ښودل کیږی.
II. پلان: په دی پلان کی د نفوسو شمیر ښودل کیږی د نفوسو زیاتوالی د مربعاتو په سره د محصولاتو سره ارایه کیږی.
III. پلان: دی پلان کی د مناطقو موقعیت نظر د هغی محصولاتو ته ښودل کیږی.
IV. پلان: په دی پلان کی موجوده سړکونه د ترافیکی وسایطو د جریان سره سم ښودل کیږی.په همدی ډول ټول هغه پروپوزلونه (*Proposals*) چی د مختلفو ځایونو ځخه حاصلیږی هم په دی پلان کی ښودل کیږی.

## « د ترافیکو حجم Traffic Volume »

د ترافیکو حجم عبارت دی د وسایطو د تعداد ځخه په معین وخت کی د یوی نقطی ځخه غیور کوی دغه معین وخت کیدای شی کال یا میاشت وی او یا ورځ وی.

## « ورځنی اوسط ترافیک Average Daily Traffic »

د ترافیکو اندازه ګیری عمومی واحد عبارت دی په حال کی د ورځنی اوسط ترافیکو د تعداد ځخه او هغه په (*ADT*) باندی ښودل کیږی چی دا عبارت دی په کال کی د نقلیه وسایطو د تعداد ځخه چی په (365) باندی تقسیم شی. او نوموړی عدد د اوسط ترافیکو تعداد بنی. ورځنی اوسط تعداد د ترافیکو کولای شو چی په آسانی سره د حساب دستګاه پواسطه تعین کړو د کال په بعضو ورځو کی د ترافیکو تعداد نظر بعضو نورو ورځو ته دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چنـده وی خـو نظـر همدغـه دلیـل تـه کـوم سـړکونه چـی د ورځـی اوسـط ترافیکـو تعـداد پـر بنـاّ جـوړیږی نـو د کـال پـه بعضـو ورځـو کـی د ترافیکـو د زیـات حجـم او ډیـزاین شـوی حجم لپـاره کفایت نه کوی.

## « د ترافیکو تر ټولو مصروف ساعت Peak Hour Traffic »

د ترافیکـو تعـداد یـا معمولومـول د ورځـی پـه جریـان پـه سـاعتوار ډول مهـم دی. دا ځکـه چـی پـه کلـی توګـه د ترافیکـو تعـداد پـه مختلفـو سـاعتونو کـی مختلـف دی اوم معمـلاّ کـولای شـوه پـه دی توګـه د ورځـی پـه اوږدو کـی هغـه سـاعت پیدا کړو چـی پـه هغو کـی د ترافیکـو حجـم اعظمـی دی چـی دغـه سـاعت تـه حـد اکثـره د ترافیکـو سـاعت $(Peak\ Hour\ Traffic)$ ویـل کیـږی. د اقتصـاد لـه نقطـی نظـره دا اقتصـادی نـه دی چـی حـد اکثـره د ترافیکـو د سـاعت پـر بنـاّ بانـدی سـړک طرحـه او ډیـزاین کـړو او همدارنګـه ورځنـی اوسـط ترافیـک پـر بنـاّ ډیـزاین د سـړک هـم امکان نلری.

مهـم تـرین رهنمـاّ د سـاعتوار ترافیکـو تعـداد د تعـین لپـاره د ډیـزاین پـه منظـور عبـارت د هغـه ګـراف نـه کـم حجـم چـی د ډیـزاین لپـاره پـه نظـر کـی کیـږی هغـه د $(30)$ ام سـاعت ترافیکـو حجم پـه نظر کی نیول کیږی.

د ښـار څخـه پـه خـارج لارو د تـګ او راتـګ متوسـطه تعـداد د $(30)$ ام سـاعت د ورځنـی اوسـط حجـم $(15\%)$ سـره مسـاوی دی او همدارنګـه د ښـار پـه داخـل کـی د $(30)$ ام سـاعت د $(35\%)$ سـره کیـږی هـر هغـه سـړک چـی د $(30)$ ام سـاعت پـر بنـاّ ډیـزاین شـی نـو د کـال پـه جریـان کـی پـه ټولـو حـالاتو کـی د ترافیکـو تعـداد بـه د $(30)$ام سـاعت د حجـم څخـه زیـاتیږی نـور بـاقی د کـال پـه جریـان کـی دی ټولـو حـالاتو کـی د ترافیکـو تعـداد بـه د $(30)$ ام سـاعت څخـه تجـاوز نـه کـوی پـه هغـه صـورت کـی چـی نظـر $(30)$ ام سـاعت نـه د سـړک ډیـزاین اقتصـادی نـه وی نـو پـه دی صـورت کـی کیـدلای شـی چـی د ترافیکـو تعـداد $(30)$ ام سـاعت څخه کم په نظر کی ونیول شی.

## د ترافیکو پیش بیني Projection of Traffic

د نویوسړکونو جوړول او هغه سړکونه چي وسعت ورکول کیږي د موجوده ترافیکو د حجم پراساس باندې ډیزاین نه شي. نوموړي سړکونه باید دارنګه ډیزاین شي چي د ترافیکو تعداد په ډیزاین کي هغه تعداد وي چي د نوموړي سړکونو د عمر په طول کي تولیدکیږي. په لومړي قدم کي د سړک د عمر تعین نظر دیته چي د سړک مختلف قطعات د مختلف عمرونو لرونکي دي مشکل کار دي.ځکه امکان لري د سړک مختلف قطعات د مختلفو عواملو تر تاثیر لاندي راشي. په همدي ډول درېناژونه او د سړک اساسي طبقي د ۵۰ کالو د عمر، پلونه د ۲۵ څخه تر ۱۰۰ کلونو په حدودو کي او د سړک سطحه د ۱۰ څخه تر ۳۰ کلونو پوري عمر لري.

دا آشتو ASHTO ستاندرد توصیه کوي چي سړکونه د ۲۰ کالو لپاره بایدډیزاین شي.

هغه عوامل چي د ترافیکو وضعه د راتلونکو ۲۰ کالو لپاره تعینوي په لاندي ډول دي.

1. موجوده او جذب شوي ترافیک.
2. د ترافیکو طبعي رشد.
3. د نویو ساختمانونو د جوړیدوله امله د ترافیکو تولید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. د نويو مجاورو ځمکو وسعت له اثره د ترافيکو زياتيدل

## موجوده او جذب شوي ترافيک:

موجوده ترافيک د ترافيکو د هغه حجم ځخه عبارت دي چي نقليه وسايط د يو نوي سړک د خلاصيدو په وخت کي د سړک ځخه استفاده کوي. د يو سړک د وسعت ورکولو په وخت کي د ترافيکو حجم عبارت دي له حاصل جمع د هغه حجم ځخه چي د وسعت ځخه مخکي د نوموړي سړک ځخه استفاده کوی او د هغه اضافي حجم ځخه چي د نورو نقاطو او ساحاتو ځخه دېسړک ته جذب شويدي .

## د ترافيکو طبعي رشد:

په عمومي توګه د نقليه وسايطو تعداد نظر د خلکو د تعداد زياتوالي ته زياتيږي او په هر کال کې د رشد په حالت کې وي.

## د ترافيکو وسعت : Development of Traffic

د ترافيکو وسعت يا زياتيدل د سړک په اطرافو کي د نويو آباديو پوري مربوط دي. معمولاً نوموړي وسعت په هغه ځايونو کي محسوس کيږي چي پخوا هلته سړک نه وي تير شوي. د ترافيکو دغه وسعت په دوامداره ډول د سړک د خلاصيدو ځخه په وروسته کلونو کي صورت نيسي.

## د ترافيکو د پيش بيني فکتور Traffic projection factor

د ترافيکو د پيش بيني فکتور د راتلونکي ترافيکواو د موجوده ترافيکود نسبت ځخه عبارت دي

د ترافيکو د پيش بيني فکتور دارنګه لاسته راوړو چي د راتلونکي زيات شوي ترافيکو(٪) فيصدي مجموعه پر سلو تقسيم کوو او يو ورسره جمع کوو.

مونږته راکړل شوی يو سړک چي د شګي او جغل د سطحې لرونکي دي غواړو چي قير ريزي يې کړو. نوموړي سړک د 12 کلونو لپاره ډيزاين کيږي او فعلاً ورځني اوسط ترافيک (ADT) په دېسړک باندي348 عراده جات دي. په نوموړي ساحه کي يو بل سړک موجود دي چي هلته ورځني اوسط ترافيک 100 عراده جات دي او ددي ځخه ٪50 د اول سړکځخه چي قير ريزي کيږي استفاده کوي.

د ترافيکو طبعي رشد په نوموړي وخت کي (د ډيزاين د کلونو په جريان کي) ٪25په نظر کي نيول شوي. توليد شوي ترافيک ٪25 دي او وسعت شوي ترافيک پکي صفر دي. اوس د 12 کلونو ځخه وروسته د اوسط ورځني ترافيکو تعداد معلوموو:

ADT in 2011= 348 +25/100 x100 =373 V/Day ADT in

د 12 کالو په جريان کي د زيات شوي ترافيکو فيصدي

= 25%+25%+0% = 50%

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترافيکو د پيش بيني فکتور مساويدي په:

=50/100 x 1= 1.5

د 12 کالو څخه وروسته د ترافيکو تعداد عبارت دي له :

ADT in (2023) = 373 x 1.5 = 560 V/Day

## Alignment PI Station Report

**Prepared by:Abdul haq(mobarize)**

**Date: 28/2/2016 9:10:38 AM**

---

**Alignment Name: Banyan to sheber road**
**Description:**
**Station Range: Start: 0+000.00, End: 4+358.37**

| PI Station | Northing | Easting | Distance | Direction |
|---|---|---|---|---|
| 0+000.00 | 3,868,705.1570m | 484,141.8180m | | |
| | | | 205.135m | N2° 21' 59"E |
| 0+205.14 | 3,868,910.1172m | 484,150.2875m | | |
| | | | 46.861m | N6° 25' 57"E |
| 0+251.99 | 3,868,956.6832m | 484,155.5374m | | |
| | | | 46.861m | N35° 02' 35"E |
| 0+297.20 | 3,868,995.0494m | 484,182.4445m | | |
| | | | 57.582m | N39° 06' 33"E |
| 0+354.77 | 3,869,039.7297m | 484,218.7670m | | |
| | | | 91.609m | N35° 02' 35"E |
| 0+446.38 | 3,869,114.7322m | 484,271.3682m | | |
| | | | 7.711m | S83° 29' 23"E |
| 0+450.31 | 3,869,113.8580m | 484,279.0290m | | |
| | | | 95.533m | N26° 05' 18"W |
| 0+523.82 | 3,869,199.6575m | 484,237.0177m | | |
| | | | 167.805m | N26° 05' 18"W |
| 0+691.62 | 3,869,350.3660m | 484,163.2240m | | |
| | | | 323.921m | N25° 12' 59"W |
| 1+015.54 | 3,869,643.4190m | 484,025.2220m | | |
| | | | 224.512m | N21° 05' 07"W |
| 1+240.05 | 3,869,852.8985m | 483,944.4519m | | |
| | | | 9.500m | N25° 09' 06"W |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1+249.54 | 3,869,861.4981m | 483,940.4141m | | |
| | | | 0.676m | N64° 02' 55"E |
| 1+249.58 | 3,869,861.7940m | 483,941.0220m | | |
| | | | 9.534m | N30° 49' 02"W |
| 1+259.04 | 3,869,869.9817m | 483,936.1378m | | |
| | | | 203.620m | N30° 49' 02"W |
| 1+462.65 | 3,870,044.8516m | 483,831.8236m | | |
| | | | 86.143m | N26° 45' 03"W |
| 1+548.79 | 3,870,121.7752m | 483,793.0493m | | |
| | | | 7.127m | N89° 48' 03"W |
| 1+552.25 | 3,870,121.8000m | 483,785.9220m | | |
| | | | 89.599m | N31° 12' 56"E |
| 1+623.13 | 3,870,198.4274m | 483,832.3574m | | |
| | | | 483.074m | N31° 12' 56"E |
| 2+106.20 | 3,870,611.5640m | 484,082.7140m | | |
| | | | 415.318m | N11° 04' 43"E |
| 2+520.97 | 3,871,019.1423m | 484,162.5202m | | |
| | | | 25.552m | N7° 00' 45"E |
| 2+546.51 | 3,871,044.5030m | 484,165.6397m | | |
| | | | 1.844m | S89° 41' 24"E |
| 2+546.80 | 3,871,044.4930m | 484,167.4840m | | |
| | | | 25.832m | N10° 27' 31"W |
| 2+571.90 | 3,871,069.8960m | 484,162.7949m | | |
| | | | 821.321m | N10° 27' 31"W |
| 3+393.21 | 3,871,877.5722m | 484,013.7058m | | |
| | | | 78.445m | N6° 23' 32"W |
| 3+471.65 | 3,871,955.5297m | 484,004.9720m | | |
| | | | 6.342m | N71° 44' 54"W |
| 3+474.51 | 3,871,957.5160m | 483,998.9490m | | |
| | | | 81.294m | N46° 57' 42"E |
| 3+541.21 | 3,872,012.9984m | 484,058.3668m | | |
| | | | 151.078m | N46° 57' 42"E |
| 3+692.29 | 3,872,116.1070m | 484,168.7890m | | |
| | | | 142.769m | N28° 05' 05"E |
| 3+835.05 | 3,872,242.0651m | 484,236.0009m | | |
| | | | 15.641m | N24° 01' 06"E |
| 3+850.69 | 3,872,256.3517m | 484,242.3672m | | |
| | | | 1.118m | S69° 02' 53"E |
| 3+850.79 | 3,872,255.9520m | 484,243.4110m | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | 15.740m | N13° 49' 08"E |
| 3+866.31 | 3,872,271.2367m | 484,247.1707m | | |
| | | | 289.174m | N13° 49' 08"E |
| 4+155.48 | 3,872,552.0406m | 484,316.2415m | | |
| | | | 14.661m | N9° 45' 10"E |
| 4+170.13 | 3,872,566.4894m | 484,318.7250m | | |
| | | | 1.047m | S82° 57' 09"E |
| 4+170.23 | 3,872,566.3610m | 484,319.7640m | | |
| | | | 14.747m | N0° 16' 34"E |
| 4+184.78 | 3,872,581.1080m | 484,319.8351m | | |
| | | | 173.598m | N0° 16' 34"E |
| 4+358.37 | 3,872,754.7040m | 484,320.6720m | | |

---

**Alignment Name: Alignment - (3)-Left-4.500**
**Description:**
**Station Range: Start: 0+000.00, End: 4+358.19**

| PI Station | Northing | Easting | Distance | Direction |
|---|---|---|---|---|
| 0+000.00 | 3,868,705.3428m | 484,137.3218m | | |
| | | | 205.295m | N2° 21' 59"E |
| 0+205.29 | 3,868,910.4627m | 484,145.7980m | | |
| | | | 48.168m | N6° 25' 57"E |
| 0+253.46 | 3,868,958.3276m | 484,151.1943m | | |
| | | | 48.168m | N35° 02' 35"E |
| 0+299.93 | 3,868,997.7640m | 484,178.8520m | | |
| | | | 57.582m | N39° 06' 33"E |
| 0+357.50 | 3,869,042.4443m | 484,215.1745m | | |
| | | | 89.003m | N35° 02' 35"E |
| 0+446.50 | 3,869,115.3130m | 484,266.2791m | | |
| | | | 89.003m | N22° 01' 20"W |
| 0+521.74 | 3,869,197.8221m | 484,232.9059m | | |
| | | | 167.680m | N26° 05' 18"W |
| 0+689.41 | 3,869,348.4178m | 484,159.1674m | | |
| | | | 324.117m | N25° 12' 59"W |
| 1+013.53 | 3,869,641.6487m | 484,021.0817m | | |
| | | | 224.514m | N21° 05' 07"W |
| 1+238.05 | 3,869,851.1305m | 483,940.3107m | | |
| | | | 9.278m | N25° 09' 06"W |
| 1+247.32 | 3,869,859.5287m | 483,936.3674m | | |
| | | | 9.278m | N26° 45' 03"W |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 1+256.59 | 3,869,867.8136m | 483,932.1914m | | |
| | | | 203.620m | N30° 49' 02"W |
| 1+460.21 | 3,870,042.6835m | 483,827.8771m | | |
| | | | 88.591m | N26° 45' 03"W |
| 1+548.79 | 3,870,121.7928m | 483,788.0011m | | |
| | | | 88.591m | N27° 08' 57"E |
| 1+625.24 | 3,870,200.6230m | 483,828.4261m | | |
| | | | 482.434m | N31° 12' 56"E |
| 2+107.67 | 3,870,613.2128m | 484,078.4514m | | |
| | | | 414.359m | N11° 04' 43"E |
| 2+521.49 | 3,871,019.8502m | 484,158.0733m | | |
| | | | 24.863m | N7° 00' 45"E |
| 2+546.35 | 3,871,044.5275m | 484,161.1088m | | |
| | | | 24.863m | N6° 23' 32"W |
| 2+571.05 | 3,871,069.2362m | 484,158.3406m | | |
| | | | 821.321m | N10° 27' 31"W |
| 3+392.36 | 3,871,876.9125m | 484,009.2516m | | |
| | | | 80.669m | N6° 23' 32"W |
| 3+473.03 | 3,871,957.0803m | 484,000.2702m | | |
| | | | 80.669m | N42° 53' 44"E |
| 3+544.56 | 3,872,016.1784m | 484,055.1788m | | |
| | | | 150.489m | N46° 57' 42"E |
| 3+695.04 | 3,872,118.8855m | 484,165.1710m | | |
| | | | 141.861m | N28° 05' 05"E |
| 3+836.90 | 3,872,244.0426m | 484,231.9555m | | |
| | | | 15.240m | N24° 01' 06"E |
| 3+852.13 | 3,872,257.9631m | 484,238.1587m | | |
| | | | 15.240m | N17° 53' 07"E |
| 3+867.36 | 3,872,272.4666m | 484,242.8391m | | |
| | | | 288.855m | N13° 49' 08"E |
| 4+156.21 | 3,872,552.9604m | 484,311.8336m | | |
| | | | 14.288m | N9° 45' 10"E |
| 4+170.49 | 3,872,567.0422m | 484,314.2541m | | |
| | | | 14.288m | N4° 20' 33"E |
| 4+184.76 | 3,872,581.2895m | 484,315.3359m | | |
| | | | 173.438m | N0° 16' 34"E |
| 4+358.19 | 3,872,754.7257m | 484,316.1721m | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Alignment Name: Alignment - (3)-Right-4.500**
**Description:**
**Station Range: Start: 0+000.00, End: 4+358.55**

| PI Station | Northing | Easting | Distance | Direction |
|---|---|---|---|---|
| 0+000.00 | 3,868,704.9712m | 484,146.3142m | | |
| | | | 204.975m | N2° 21' 59"E |
| 0+204.98 | 3,868,909.7718m | 484,154.7771m | | |
| | | | 45.554m | N6° 25' 57"E |
| 0+250.52 | 3,868,955.0388m | 484,159.8806m | | |
| | | | 45.554m | N35° 02' 35"E |
| 0+294.47 | 3,868,992.3347m | 484,186.0371m | | |
| | | | 57.582m | N39° 06' 33"E |
| 0+352.05 | 3,869,037.0151m | 484,222.3596m | | |
| | | | 94.216m | N35° 02' 35"E |
| 0+446.26 | 3,869,114.1515m | 484,276.4573m | | |
| | | | 94.216m | N22° 01' 20"W |
| 0+525.89 | 3,869,201.4930m | 484,241.1295m | | |
| | | | 167.931m | N26° 05' 18"W |
| 0+693.82 | 3,869,352.3142m | 484,167.2806m | | |
| | | | 323.724m | N25° 12' 59"W |
| 1+017.54 | 3,869,645.1893m | 484,029.3623m | | |
| | | | 224.509m | N21° 05' 07"W |
| 1+242.05 | 3,869,854.6665m | 483,948.5931m | | |
| | | | 9.723m | N25° 09' 06"W |
| 1+251.76 | 3,869,863.4676m | 483,944.4607m | | |
| | | | 9.723m | N26° 45' 03"W |
| 1+261.49 | 3,869,872.1499m | 483,940.0843m | | |
| | | | 203.620m | N30° 49' 02"W |
| 1+465.10 | 3,870,047.0198m | 483,835.7701m | | |
| | | | 83.696m | N26° 45' 03"W |
| 1+548.79 | 3,870,121.7577m | 483,798.0975m | | |
| | | | 83.696m | N27° 08' 57"E |
| 1+621.03 | 3,870,196.2319m | 483,836.2887m | | |
| | | | 483.713m | N31° 12' 56"E |
| 2+104.73 | 3,870,609.9152m | 484,086.9766m | | |
| | | | 416.277m | N11° 04' 43"E |
| 2+520.44 | 3,871,018.4343m | 484,166.9670m | | |
| | | | 26.240m | N7° 00' 45"E |
| 2+546.68 | 3,871,044.4785m | 484,170.1706m | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | **26.240m** | **N6° 23' 32"W** |
| **2+572.75** | **3,871,070.5557m** | **484,167.2491m** | | |
| | | | **821.321m** | **N10° 27' 31"W** |
| **3+394.06** | **3,871,878.2320m** | **484,018.1601m** | | |
| | | | **76.221m** | **N6° 23' 32"W** |
| **3+470.27** | **3,871,953.9791m** | **484,009.6739m** | | |
| | | | **76.221m** | **N42° 53' 44"E** |
| **3+537.87** | **3,872,009.8184m** | **484,061.5547m** | | |
| | | | **151.666m** | **N46° 57' 42"E** |
| **3+689.53** | **3,872,113.3285m** | **484,172.4070m** | | |
| | | | **143.676m** | **N28° 05' 05"E** |
| **3+833.21** | **3,872,240.0875m** | **484,240.0462m** | | |
| | | | **16.042m** | **N24° 01' 06"E** |
| **3+849.24** | **3,872,254.7402m** | **484,246.5757m** | | |
| | | | **16.042m** | **N17° 53' 07"E** |
| **3+865.27** | **3,872,270.0067m** | **484,251.5022m** | | |
| | | | **289.494m** | **N13° 49' 08"E** |
| **4+154.75** | **3,872,551.1209m** | **484,320.6494m** | | |
| | | | **15.033m** | **N9° 45' 10"E** |
| **4+169.78** | **3,872,565.9367m** | **484,323.1960m** | | |
| | | | **15.033m** | **N4° 20' 33"E** |
| **4+184.80** | **3,872,580.9266m** | **484,324.3343m** | | |
| | | | **173.758m** | **N0° 16' 34"E** |
| **4+358.55** | **3,872,754.6823m** | **484,325.1719m** | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم فصل

## د سړک د هندسي اجزاؤ ډيزاينHighway Geometric Design

**عموميات:**

د سړک هندسي اجزاوې عبارت دی د ليدونکو اجزاؤ د مشخصاتو څخه (Visible Features) لکه: مسير، د ديد فاصله، عرضي ميل، عمودي او افقي ګولايي څخه عبارت دی.

د سرک ده هندسي اجزاؤ څخه هدف د سرک مؤثريت زياتيدل دي.

د سرک په هندسي اجزاؤ کې لاندې اجزاء کې لاندې اجزا شاملې دي.

۱- عرضي مقطع (کمبر) او سوپر ايلويشن Camber and Super elevation

۲- د ديد فاصله Sight Distance, Consideration

۳- افقي او عمودي ګولای Horizontal and vertical curved

٤- د سرک چوکونه

د سرک د هندسي اجزاؤ ډيزان د لاندې فکتورونو تابع دي:

۱- ډيزاين سرعت Design Speed

۲- ساحې توپوګرافي Topography

۳- د عراده جاتو فزيکي طرحه Design Vehicle

٤- ترافيکي جسم په في ساعت کې Design Hourly T.V

٥- محيطي شرايط Environmental Fetors

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Design Speed

د ډیزاین سرعت د سرک هرې برخې په ډیزاین عمده او مهم فکتور شمېرل کیږي چې د سرک د هندسي ډیزاین د هر عنصر ډیزاین د ډیزاین سپیډ پورې اړه لري لکه د فرش د سطحې مشخصات، عرضي مقطعې مشخصات پلونوالی د افقي مسیر عناصر لکه د ګولایي شعاع سوپر ایلویشن د انتقالي ګولای اوږدوالی. عمودي مسیر عناصر لکه ګراډینت د ناوګولای او نور د سرعت ډیزاین پورې اړه لري او د جدول څخه اخیستل کیږي.

په لاندې جدول کې د عراده جاتو اعظمي سرعت نظر د سرک نوعیت او ساحې نوعیت ته ښودل شوی دی:

| د سرک نوعیت | همواره ساحه | په غرنۍ ساحه کې |
|---|---|---|
| ملي سرکونه | 100 | 50 |
| ولایتي سرکونه | 80 | 40 |
| ولسوالی | 60 | 40 |
| کلیوال | 40 | 25 |

څرنګه چې زمونږ سرک د بامیانو د ولایت مربوطه د شیبر سرک په غرنۍ سیمه کې موقعیت لري او سرک مو د ولسوالی سرک دی نو ډیزاین سرعت یې $(60-40\frac{km}{h})$ په نظر کې نیول کیږي.

## د وسایطو فزیکي طرح Design Vehicle

په دې فکتور کې د وسایطو وزن، طول، غرض، او ارتفاع چې د سرک څخه استفاده کول په نظر کې نیول کیږي. نوموړی فکتور د سرک په عرض سوپر ایلویشن او د سرک د فرش په ډیزاین کې عمده رول لري نظر د فواید عامې وزارت ستندرد ته چې په 2004 کال پیشنهاد شو د سرکونو لپاره ټول سرکونه باید د 12T څخه کم ډیزاین شي.

## د ساحې توپوګرافي

د ساحې توپوګرافي د سرک په هندسي ډیزاین باندې زیاته اغیزه لري چې د عمودي میلان یو بنیاد تولې سیمې او ساحې په هموار، موجي او غرنیزو ساحو ویشل کیږي.

چې د سرک طولي میل، افقي ګولایي، عمودي ګولایي، ډریناجونه او د سرک عرض شامل دی د ساحې توپوګرافي مربوطه کوم اجزا چې پورته ذکر شول د سروې په وخت کې دا ارقام اخیستل شوي.

## ترافیک حجم په في ساعت کې Design Hourly Velum

په دې فکتور کې د عراده جاتو مقدار او نوعیت چې په في ساعت کې د سرک د پاسه عبور کوي زمونږ مورد نظر سرک د ترافیک سروې کوم ارقام چې لاس ته راغلي دي د سروې په بخش کې درج دي.

## محیط شرایط

لاندې فکتورونه د سرک په ساختماني کې نظر محیطي شرایطو ته خاص اهمیت لري.

۱- اورښت: په هغه سیمو کې چې د اورښت شدت او مقدار زیات وي کمبر هم زیات نیول کیږي او په هغه سیمو کې چې د اورښت شدت او مقدار کم وي نو عرضانی میل (کمبر) هم کم په نظر کې نیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. څرنګه چې زمونږ پروژه د باميانو په ولايت کې ده د کلنۍ اورښت اندازه په غرنيوبرخو کې 300mm او په هوارو برخو کې 200 ملي متره ده.

۲- تودوخې درجه: د تودوخې د درجې له مخې د قير نوعيت او مارک تعينوو؛ څرنګه چې زمونږ پروژه د باميانو په ولايت کې ده نو د تودوخې لوړه درجه 30c ده او په ژمي کې 20c درجې ده چې نظر د تودوخې درجې ته د جدولونو څخه د قير نوعيت ټاکل کېږي.

۳- د ځمکې لاندې د اوبو ژوروالی: هغه وخت په نظر کې نيول کېږي کله چې د Water table سطحه ځمکې ته نيږدې وي نظر مورد زمونږ پروژې ته اوبو ژوروالی 100m ته رسيږي.

## اصطکاک Friction

د وسايطو د ټيرونو او فرش تر منځ اصطکاک مهم فکتور دی چې د وسايطو د چټکتيا او واټن غوښتنې په درلودلو کې مهم ګڼل کېږي.

کله چې يوه واسطه د افقي ګولايي څخه تيريږي نو منځ ته راغلی جانبي اصطکاک د فرارالمرکز قوه خنثی کوي.

کله چې د فرارالمرکز قوه د خنثی کوونکي قوې څخه زياته وي نو په دې وخت کې موټر جانبي ښويدنه کوي او حادثه منځ ته راځي.

د طولاني اصطکاک ضريب قيمتونه له 0.35 څخه تر 0.4 پورې ښودل شوی دی. د افقي ګولايي د ډيزاين په وخت کې د جانبي اصطکاک ضريب0.15 ښودل شوی دی.

### هغه فکتورونه چې په اصطکاک باندې اغيز لري

۱- د فرش د سطحې ډول: سطحه څه ډول ده، سيمنټ، کانکريټ، قير، خاوره او نور.

۲- د فرش زيږوالی.

۳- د فرش د سطحې حالت لکه لوند، وچ، غوړ او نور...

٤- د ټيرونو ډول او حالت

٥- د وسايطو سرعت او چټکتيا

٦- د بريک اغيزمن والی

۷- بار او د ټير فشار

۸- د فرش او د ټيرونو تودوخه

۹- د ښويدو ډول

۱۰- د فرش په طبقه کې د کارول شوي جغل ډول

## د فرش طبې ناهموار والی: Pavement Unevenness

| Length: | 128.098 | Course: | N 28° 05' 04.5842" E |

**Spiral Curve Data: clothoid**

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 22.000 | L Tan: | 14.671 |
| Radius: | 155.000 | S Tan: | 7.337 |
| Theta: | 04° 03' 58.1475" | P: | 0.130 |
| X: | 21.989 | K: | 10.998 |
| Y: | 0.520 | A: | 58.395 |
| Chord: | 21.995 | Course: | N 26° 43' 45.4097" E |

**Circular Curve Data**

| | | | |
|---|---|---|---|
| Delta: | 06° 07' 59.8376" | Type: | LEFT |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| Radius: | 155.000 | | |
| Length: | 16.592 | Tangent: | 8.304 |
| Mid-Ord: | 0.222 | External: | 0.222 |
| Chord: | 16.584 | Course: | N 20° 57' 06.5179" E |

## Spiral Curve Data: clothoid

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 22.000 | L Tan: | 14.671 |
| Radius: | 155.000 | S Tan: | 7.337 |
| Theta: | 04° 03' 58.1475" | P: | 0.130 |
| X: | 21.989 | K: | 10.998 |
| Y: | 0.520 | A: | 58.395 |
| Chord: | 21.995 | Course: | N 15° 10' 27.6260" E |

## Tangent Data

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 259.833 | Course: | N 13° 49' 08.4515" E |

## Spiral Curve Data: clothoid

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 22.000 | L Tan: | 14.671 |
| Radius: | 155.000 | S Tan: | 7.337 |
| Theta: | 04° 03' 58.1475" | P: | 0.130 |
| X: | 21.989 | K: | 10.998 |
| Y: | 0.520 | A: | 58.395 |
| Chord: | 21.995 | Course: | N 12° 27' 49.2771" E |

## Circular Curve Data

| | | | |
|---|---|---|---|
| Delta: | 05° 24' 37.7633" | Type: | LEFT |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| Radius: | 155.000 | | |
| Length: | 14.637 | Tangent: | 7.324 |
| Mid-Ord: | 0.173 | External: | 0.173 |
| Chord: | 14.631 | Course: | N 07° 02' 51.4223" E |

**Spiral Curve Data: clothoid**

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 22.000 | L Tan: | 14.671 |
| Radius: | 155.000 | S Tan: | 7.337 |
| Theta: | 04° 03' 58.1475" | P: | 0.130 |
| X: | 21.989 | K: | 10.998 |
| Y: | 0.520 | A: | 58.395 |
| Chord: | 21.995 | Course: | N 01° 37' 53.5676" E |

**Tangent Data**

| | | | |
|---|---|---|---|
| Length: | 158.927 | Course: | N 00° 16' 34.3932" E |

# څلورم فصل

## دسرک ساختمانی مواد:

### ۱ دسرک دبستر دطبقی خاوره (Road sub grade soil)

دبستر دطبقی خاوره (Sub grade soil) دسرک دنورو طبقو سره نه بیلیدونکی اړیکی لری چه دا طبقه دسرک پورتنی طبقات دلاندی خوانه حمایه کوی دبل جهته باید دترافیکی وسایطوله اثره دوارده بارونو په مقابل کی مقاومت او ثبات ولری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبستر دطبقی خاوره دسرک دساختمان یو عمده برخه ده او دسرک دساختمان لپاره دتهداب(Support) حیثیت لری چه باید دوارده بارونو او همدارنګه اقلیمی نا مساعده شرایطو په مقابل کی کافی مقاومت او دوام ولری .

دسرک دفرش (Pavement) په قیر اوهم سیمنتی کانګریتی سرکونود درزونو تغیر شکل او تخریب رامنځ ته کیدو دبستر دطبقی دخاوری ضعیف والی له آثره صورت نیسی په دی صورت کی علاوه دثبات (Stability) څخه دنه قبض کیدو (incompressibility) خاصیت هم ولری څکه چه دخاوری غیر منظم نشست (Defferential settiement) چی دخاوری دقبض کیدو څخه رامنځته کیږی هم دسرک دساختمانی قشر دتخریب باعث ګرځی . دسرکونو په تحتانی او فرعی تحتانی طبقاتو (Bas and sub bas course)کی اکثره دتیک شوی او تحکیم شوی خاوری څخه استفاده کیږی پس وایلی شوه چه خاوره دسرک جوړونی دموادو څخه یوه عمده او اساسی ماده ده بنآء ددی (بستر طبقی خاوره) په انتخاب کی دزیات دقت څخه کار واخیستل شی.

## دخاوری خواص:(Scharacteristic of soil)

اساسآ خاوره یوه منرالی ماده ده چه دجوی تاثیراتو دغرونو دتخریب له امله رامنځ ته کیږی دغرونو دغه تخریب داوبو واوری کنګل(Frost) حرارت او هم دهغه فشار له امله چه دحیواناتو او نباتاتو له خوا پری واردیږی. له اثره دتیږی څخه په لاس راځی او لاندی ډولونه لری یعنی اندازی(Size) ته په لاندی ډول صنف بندی شوی:

Gravel , Sand , Silt او Clay باندی ویشل کیږی دخاوری دزراتو خصوصیات نظر دهغوی اندازو مساحت سطحی جوړښت کیمیاوی ترکیب او دسطحی چاروجونو له مخی تغیر خوری.

هغه خاوره چه په بستر طبقو کی استعمالیږی باید لاندی خواص ولری .

مداومتstability

غیرقابل منبسط incompressibility

دایمی مقاومت permonency of strength

اصغری تغیرحجم Minimum change in volume

داوبو درولوبنه قابلیت Good drainage

دتراکم کیدو بنه قابلیت Ease compaction

دبستر طبقی دخاوری مقاومت (Sub grade soil strength ) :

هغه فکتورونه چه دخاوری په مقاومت باندی تاسیر لری په لاندی ډول دي.

1 دخاوری نوعیت (Soil type)

2نسبتی رطوبت(Moisture content)

3 وچ کثافت (Dry density)

(c) ketabton.com: The Digital Library

4 داخلی ساختمان (Internal structure)

5 دوارده تشنج نوعیت (Type of stress)

## دبسترطبقیدخاوری دمقاومت معلومول(Evolution strength of soil)

هغه ټستونه چه د sub grade دخاوری دمقاومت دمعلومو لپاره اجرا کیږی عبارت دی له:

Plate bearing test 1

C B R test 2

Field density test 3

Compaction test 4

1 پلیټ بیرنګ ټیسټ:

نموړی ټیست د sub grade دخاوری دپایداری (Supporting power) لپاره اجرا کیږی.

سامان الات :

یوسیټ پلیټونه چه قطرونه یی 45cm,60cm,75cm او 30cm وی دوزن واردولواله دجک اوګیج په شمول.

یو فرم چه په افقی ډول تحکیم شوی وی چه همدی ځخه ټسټ دګیج په واسطه اندازه کیږی.

طرزالعمل (Procedure):

د ازمایش ساحه همواره کوه.پلیټونه په ترتیب سره یوه دبل دپاسه په قرار ورکوه (دشکل مطابق)

دپلیټونو دپاسه جک قرار ورکول کیږی او دګیج دفرم په نیمائی کي عیار کیږی .

32000gr وزن د 75cm پلیټ د پاسه چه $0,07kg/cm^2$ فشار واردوی او د دی له اثره دټسټ اندازه یا درست کوه البته وزن د ځو sec لپاره قرار ورکول کیږی.

په دی ترتیب وزن په زیاتولوسره عملیه تکرارکوه تر ځو دتست اندازه 0,175cm شی.

دحاصل شوی قیمتونو له مخی د تست ګراف دفشار په مقابل کی ترمیم کیږی.

دګراف ځخه 0,125cm ټسټ لپاره دفشار قیمت (P) را اخلواود sub grade دعکس العمل ضریب (k) محاسبه کوو.

$$k=\frac{p}{0,125} \cdot kg/cm^2.\ \ kg/cm^1\ kg/cm^3$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اخر کی 32000kg وزن چه 0,7kg فشار واردوی دځوثانيو لپاره وارد کيږی تر څو په نمونه کی هيڅ نشست پيدا نشی او يا داچه دنشست اندازه 0,025mm څخه زياته نشی البته د Clay خاوری په صورت کی چه همدغه تست په cm باندی تبديل او د k محاسبه کووه.

شکل دلته دی.

## د C B R ټسټ : (California Bearing Ratio percent)

نموړی ټسټ د لومړی ځل لپاره په 1928 کال کی په کليفورنيا کی دسرک دپرمختيائی پروژو له خوا نه انتخاب شوه.

نموړی ټسټ دبستر دطبقی يا دنورو صبقو د پايداری (Stability) په منظور اجرا کيږی د C B R ټسټ د داخليدو (Penetration) ټستونو په واسطه صورت نيسی .

دنموړی ټسټ لپاره په ساحه کی نمونه اخيستل کيږی او په پولادی قالب کی (ظرف)چه 15cm قطر لری او 18cm ارتفاع لری دده نه وروسته په لومړی نمونه باندی په هغه اندازه اضافی بارونه کيښودل کيږی.

څومره وزن چی دسرک دمختلفو ساختمانی قشرونو لخواء دبستر په طبقه کی واردیږی وروسته بيا يو فولادی فلنجر چه 5cm قطر لری په ساحه کی د 1,25mm/$_{mint}$ لپاره په موادو کی داخليږی او په دی وخت کی د2,5mm او 5mm لپاره دوزن يادداشت کيږی.

وروسته د ننوتو(Penetration) لپاره دوزن ګراف ترميميږی او 2,5mmاو5mm دنمونی ننوتلو لپاره وزن پيداکيږی او معمولاً C B R د 2,5mm پنتريشن لپاره انتخابيږی.

**Table 6.6 Standard Load Values on Crushed Stones**

| Penetration | Standard Load(kg) | Unit standard load(kg/cm$^3$ |
|---|---|---|
| 215 | 1370 | 70 |
| 510 | 2055 | 105 |
| 1010 | 3180 | 134 |
| 1215 | 3600 | 183 |

يو ټسټ دوام (تکرار)ورکول کيږی ترڅو د دواړو لپاره عين وزن په ګراف کی پيداشی .

C B R ټسټ دهغه موادو لپاره اجرا کيږی چه د 20mm غربال څخه تير شوی وی.

د CRR فيصدی دارنګه لاسته راځی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$CBR=\frac{\text{load carried by speciman at defined pentration level}}{\text{loal carried by standard crushed stone at the abov pentration level}}\times 100$$

یعنی CBR فیصدی مساوی کیږی هغه وزن چه د ماشین په واسطه دپنتریشن لپاره انتقالیږی په نسبت دهغه وزن چه موادو په واسطه دپنتریشن په ساحه کی انتقالیږی ددواړو تفاوت ضرب 100.

نمونږی ټسټ دسرک دساختمان دټولو اجزاو لپاره اجراکیږی او دCBR فیصدی په پورتنی طبقاتو کی نسبت لاندی طبقاتو ته ډیر زیاته وی .

دبستر دطبقی لپاره CBR تر20% داساسی طبقی یا (Bas Course) لپاره تر 80% او دفرش لپاره تر95% پوری وی.

**Specimen No 1**

**215mm Penetration** ⟶ 215mm په خاوره کی دفلنجرننوتنه .

$$CBR=\frac{24}{70}\times 100=34,3\%$$

**Specimen No2**

**5mm Penetration** ⟶ 5mm په خاوره کی دفلنجرننوتنه.

$$CBR=\frac{36}{105}\times 100=34,3\%$$

نوټ: که چیرته د CBR قیمت په 5mm ننوتنی کی د215 څخه زیات نه شی نو په دی صورت کی باید تجروبه د سرنه تکرار شی اما که قیمتونه ئی سره مساوی اویا د215mm ننوتی قیمت زیات وی نو تجربه درسته ده .

دکمپکشن ټسټ (Compaction):

هدف: دکمپکشن ټسټ څخه هدف په خاوره کی درطوبت اندازی معلومول دی یعنی (Optimum Moisture Content) معلومول دی .

طرزالعمل(Procedure)

11kg نمونه دخاوری اخیستل کیږی په عادی حالت کی (Average dry soil)اود 4NO(څلورم) نمبر غربال پواسطه غربال کیږی. دخاوری نمونه او قالب وزن یاداشت کیږی.

دنمونی (کمپک شوی) څخه $1/_{100}$ ام حصه درطوبت دپیداکولو لپاره اخیستل کیږی. په نمونه کی 5% اوبه علاوه کیږی او عملیه بیا تکراریږی.عملي ته تر هغه دوام ورکوه ترڅو دنمونی وزن زیات شی.

دخاوری نمونه په قالب (molds) کی چه 6075gr وزن او$2138cm^3$حجم لری په 5 مساوی طبقو کی اچول کیږی او دهر طبقه (layers)باندی دقالبوالی په واسطه(Hammer) چه 10پونده وزن لری 25مرتبی ضربه واردیږی دنمونی او قالب وزن یاداشت کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری دخاوری دطوبت دمجازی رطوبت څخه کم وی نو د تپک کاری په وخت کی خاوری ته اوبه ورکول کیږی او د تیک کاری عملی ته ادامه ورکول کیږی ترڅودخاوری رطوبت دمجازی رطوبت سره مساوی شی .

This is a penetration test developed by the California




Figure 6.13 CBR Test Set up

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دخاوری خصوصیاتو شاخص( Index of Properties of soil):

دخاوری هغه خصوصیات چی له مخی ئی خاوره پیژندل کیږی او درجه بندی کیږی دخاوری شاخص خصوصیات د دانو د سایز ویشل دمایع حد او پلاستیکی شاخص دی. ډیري وخت دانقباض شاخص دساحی لمدبل.معادل فرارالمرکز لمدبل اوتخته شوی وچ غلظت هم دشاخص په توګه کاریږی.

دخاوری وچ کثافت محاسبه او دحاصل قیمتونو له مخی درطوبت ګراف ترمیمیږي.

$$w=\frac{wa-wd}{wd}\times 100$$

$$rw=\frac{ws}{v}=\frac{ws}{430}=30ws$$

$$rd=\frac{rw}{1+w}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ددانی دسایز تحلیل(Grain site analysis):

**ددانی دسایز ویشل دمیخانیکی وسایلو په مټ ترسره کیږی دخاوری زیږی دانی(Coarse) دغلبیل اومیده دانه دانی (Fine) دترسب په واسطه تحلیل کیدای شی.**

**په میخانیکی طریقی سره دخاوری په یوه نمونه کی د ذراتوانفرادی فیصدی معلومیدای شی.**

**دغلبیل تحلیل یو ساده ټسټ دی چی دواړو غلبیلونو څخه دتیرشوو موادو له مخی ترسره کیږی هغه مواد چی دغلبیل په مخ پاتی کیږی نظردنمونی ټول وزن ته فیصدی ټاکی. دترسب دنظری په اساس غټ ذرات زر کینی او په دی ترتیب میده دانه ذرات چی75 مایکرون غلبیل څخه تیریدای شی لاس ته راځی. دخاوری میده دانی ذرات په بیلابیلو مقدار اوبو کی بیلابیل فزیکی خواص له ځانه ښی په ځانګړی ډول کلی خاوره.کلی خاوره ګیدای شی دمایع په شکل او یا هم کیدای شی پلاستیکی خاصیت ولری اویاهم دلمدبل په شکل وی دکلی خاوری پلاستیکی خاصیت تر ټولو نورو ډیر مهم دی .**

## د دانو دسایز په اساس دخاوری درجه بندی

## (soil classification based on grain size):

**دخاوری ددانو دسایز په اساس دخاوری لپاره بیلابیلی درجه بندی شتون لری.دکوم له مخی چی خاوره په جغل،شږه،سلتsilt او کلی باندی درجه بندی کیږی. په دی ټولو درجه بندیو کی دخاوری دټولو ډولو لپاره ددانو دسایز یو شان نه دی .**

| Gravel | Sand | | | Silt | | | Clay | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Coars | medium | Fine | coars | Medium | Fine | coars | medium | Fine |
| 2 | 0,6 | 0,2 | 0,06 | 0,02 | 0,006 | 0,002 | 0,0006 | 0,0002 | |

## دنرمی درجه یاد دخاوری ابداری حالت (Soil Consistency):

**دخاوری خواص نظر داوبو فیصدی ته تغیرکوی داوبو فیصدی چی خاوره دیو حالت څخه بل حالت ته اړوی دخاوری ابداری دحدود یا دخاوری دنرمی په واسطه تشریح کیږی مګر دخاوری دابداری دحدودو فیصدی په لابراتوار کی داتربرګ لمتس (Atterberg limits) دازمایش په واسطه صورت نیسی.**

**داوبو زیات مقدار د ذراتو ترمنځ دسریښیدنی دکموالی باعث ګرځی له همدی کبله چی په دی حالت کی خاوره دمایع په شکل په اسانه سره حرکت کوی هرڅومره چه داوبو مقدار کمیږی په همغه اندازه د ذراتو ترمینځ سریښیدنه زیاتیږی او سرعت کمیږی داوبو دفیصدی په تغیر سره کولی شوه چی خاوره دمایع.نیمه جامد.اوجامد په شکلونو اړوو دغه خاصیت یواځی دکلی یا سریښ لرونکی خاوری لپاره داهمیت وړ دی اوسلټ اوریګ بیدون دسریښ څخه دی. دخاوری ابداری حالت داخلی اصطکاک او مقاومت دجریان په مقابل کی تشریح کوی او یا په بل عبارت دخاوری د میلان(flow)حالت تعینوی که**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دخاوری یوه نمونه په نظرکی ونیسو چی خمیر مانند حالت ته ورسیږی چی دابداری په یو معین مقدارسره دمایع دحد په نوم(liquid limit) یادیږی وروسته له دی د وچیدو په صورت کی دپلاستیک حالت ( Plastic state) ته انتقالیږی چه دمایع په شکل جریان نشی کولی .**

**پلاستیک دمادی هغه حالت ته ویل کیږی چه دفشار په تطبیق سره په هغه کی دایمی تغیر شکل رامنځ ته شی .**

**دپلاستیک په حالت کی کولی شوه چه بیدون د درز دتولید ځخه خاوری ته شکل ورکړو**

**چه داحالت صرف دکلی لپاره امکان لری دهغی سبب دخاوری دمجاورو دانو ترمنځ داوبو دنازکی پردی موجودیت دی چی دشکل نیونی امکان خاوری ته ورکوی .**

**دخاوری په نوری وچیدنی سره دپلاستیک حالت له لاسه ورکوی په نمونه کی درزونه پیدا کیږی چی دپلاستیک دحد په نوم یادیږی .**

**چه وروسته خاوره نیمه جامد حالت نیسی اودشکل نیونی وړتیا له لاسه ورکوی .**

**که وچیدنی پروسه نوره هم دوام پیداکړی خاوره دجامد حالت (Solid state) ته رسیږی**

**چی له دی حالت ځخه وروسته دکتلی حجم یا اوبو کمول هم ثابت پاتی کیږی او دهغه درنګ دتیاره والی ځخه هم کمیږی چی دا حالت دانقباض دحد (Shrinkage limit) په نوم یادیږی.**

**دخاوری دابداری حدود نظر دحالت تغیرته دلاندی دریو ازموینو په واسطه اجراکیږی .**

**۱- دمایع حد ابداری دفیصدی مقدار (Liquid limit)**

**۲- دپلاستیک حد دابداری دفیصدی مقدار(plastic limit)**

**۳- دانقباض حد دابداری دفیصدی مقدار (shrinkage limit)**

**دخاوری دابداری دغه حدود په لاندی شکل کی واضع شویدی :**




**دخاوری د نرمی او ابداری دحدودو د مفکوری ځخه دخاوری په پیژندنی او صنف بندی کی استفاده کیږی .**

## دخاوری دذراتو دسایز تقسیمات(Practical size Distribution):

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورکړل شوی وچې خاوری نمونی دذراتو مختلفو سایزونو فیصدی د ذراتو دسایزونوانالیز یا میخانیکی انالیز په واسطه پیداکیږی.

میخانیکی انالیز په دی معنی ده چه خاوری په مختلفو فرکشونو باندی جلا کوی میخانیکی

انالیز په دوه ستیجونو کی اجراکیږی .

۱- انالیز دجالی په واسطه ( Sieves analysis)

۲- رسوبی انالیز(Sedimentation analysis یا wet mechanical analysis)

لومړی ستیج انالیز یواځی دزیکه دانه خاوری لپاره اجرا کیږی اوهم دوهم ستیج یواځی دی زیږده دانه خاوری لپاره اجرا کیږی په عمومی صورت دیوی خاوری نمونه کیدی شی زیږده دانه ذرات او میده دانه ذرات دواړه ولری نو په دی اساس میخانیکی ستیج ضروری ده چی اجرا شی دجالی په واسطه اګرچی د ذراتو دسایزونو تقسیمات لپاره صحیح طریقه ده تر هغه وخت پوری چی ټسټ دهواء ددرجی یا کوم بل شی په واسطه متاثر نه شی .
۱- انالیزم دجالی (غلبیل)په واسطه(Sieves analysis) :

په Bs او ASTM ستندردونو کی دغلبیل سایزونه دسوریو دنمرو په حساب په فی اینچ ښودل کیږی د سوریو تعداد په فی اینچ مربع مساحت کی مساوی دی دجالی د نمبر دمساحت سره.

په BS,ISاوASTM مشخصاتو سره دغلبیل مکمل انالیز په دوه برخو تقسمیږی :۱ دزیږه دانه خاورو انالیز۲ دمیده دانه خاورو انالیز.

په داش کی وچه شوی نمونه د 4,75mm نمبرجالی څخه دچاڼ کولو پواسطه په دوه فرکشونو باندی تقسیمیږی .

۱- دنمونی هغه برخه چه 4,75mm نمبر جال څخه نه تیریږی (پکی پاتی کیږی) هغه جالی چه دزیږه چاڼ لپاره استعمالیږی دجغل فرکشن په نامه یادیږی او دزیږه دانه انالیز لپاره ساتل کیږی .

۲- دنمونی هغه برخه چه 1S:100mm;65mm;26mm;10mm;4,75mm جالی څخه تیریږی دمیده جالی انالیز په نامه یادیږی .

هغه جالی چه میده چاڼ انالیز لپاره استعمالیږی عبارت دی له :

1S:2mm;1m;600micron;425micron;300micron;212micron;150micron;75micron

دخاوری چاڼ کول دمختلفو جالیوپه واسطه چه یوه بل دپاسه نظر دجالیو سوریو اندازه ته ایښودل کیږی صورت نیسی چی غټ سوری لرونکی جالی پورته او کوچنی سوری لرونکی جالی ښکته برخه کی ځای په ځآی کیږی غلبیل شوی خاوره په لاندینی برخه کی او باقی خاوره دهر جالی دپاسه ساتل کیږی دخاوری نمونه دپورتنی غلبیل یا جالی دپاسه اچول کیږی او نور ټول غلبیلونه دغلبیل خوځونکی ماشین سره کلکیږی دښورول شوی مقدار د ذراتو نمبراوشیپ(Shape) پوری اړه لری تر 10د دقیقو پوری ښورول دکوچنی ذراتو لپاره کافی ده دخاوری هغه برخه چه په هر غلبیل کی پاتی ده وزن کیږی او فیصدی نظردخاوری مجموعی کتلی ته پیداکیږی چی په نتیجه کی په هر غلبیل کی دخاوری فیصدی لاسته راځی هغه خاوره چی د(4) ملی متر غلبیل څخه تیره شوی ده د75 میکرون غلبیل دپاسه مینځل کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رسوبی انالیز(Sedimentation analysis theory):

په مرطوب میخانیکی انالیز یا رسوبی انالیز کی دهغی خاوری طبقه چه دهغی د ذراتو سایز د75مایکرون څخه کوچنی وی په مایعاتو کی خصوصآ په اوبو کی په مغلق شکل پاتی کیږی انالیزد Stock دقانون په اساس صورت نیسی او دهغه ذراتو کیناستل دسرعت په اساس چی په اوبو کی په مغلق شکل قرار لری دهغوی نور تول فرکشونه سره مساوی دی چی دهغوی شیپ دوزن اوسایز پوری مربوط لری.

اگر چی په اکثره انالیز کی دا فرض شوی چی دخاوری ذرات کروی (Spherical) وی اوعین مخصوصه وزن (اوسط مخصوصه وزن) لری نو ددی فرضی په پام کی نیولو سره زیږه دانه ذرات ډیر ژر رسوب کوی نظرمیده دانه ته کله چه (v) دیوی کروی ذری اخیری ډوبیدونکی سرعت وی نو په لاندی ډول لاسته راځی .

$$v=\frac{2}{9}r^2\times\frac{rs-rw}{n}\ldots\ldots1$$

$$v=\frac{2}{18}D^2\times\frac{rs-rw}{n}\ldots\ldots2$$

$$h=\frac{M}{g}$$

r - دکروی ذری شعاع ده په متر .

D- دکروی ذری قطرده په متر .

V- اخیری سرعت دی په m/sec.

rs- د ذراتو فی واحد وزن $KN/m^3$.

rw- داوبو فی واحد وزن $KN/m^3$.

n- داوبو یا مایع غلظت (Viscosity)

M- غلظت معادل.

g- تعجیل.

## دخاوری ثبات یا مقاومت (Consistency of soil):

دخاوری ثبات یا مقاومت په دی معنی ده چه ددی پواسطه په اسانه سره دخاوری شکل یا بڼه فرق کیدای شی دغه اصطلاح دمیده دانه خاوری لپاره ډیر زیات استمالیږی کوم چه داثبات (دخاوری ثبات ) په پراخه پیمانه په خاوره کی داوبو اندازی پوری مربوط دی.

ثبات دخاوری دکلکوالی ددرجی ښکارندی دی چه په نرم کلک او سخت باندی مسما کیدای شی .

میده دانه خاوره اوبو سره یوځای یو پلاستیکی خمیره تشکیلوی کوم چی به فشار سره په هر قالب کی دهمغه قالب شکل ځانته غوره کوی داوبو په زیاتولو سره په قالب کی دخاوری نښته کمیږی داوبو نور زیاتوالی سره مواد خپل شکل ساتلی نشی نګر مایع غوندی تویږی.

په کافی اندازه اوبه علاوه کیږی تر څو دخاوری ذرات محلول کی وشیندل شی که چیری اوبه نموږی خاوری محلول څخه تبخیر شی خاوره دمختلفو مراحلو یا اثبات (مقاومت) حالاتونو له لاری تیریږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په 1911کال کی تیربیرګ یو سویدنی زراعت پوه دخاوری تول حدود دمایع څخه جامد حالت پوری په څلورو مرحلو تقسیم کړی .**

**۱ـ دمایع حالت ۲ـ پلاستیکی حالت ۳ـ نیمه جامد حالت ۴ـ جامد حالت.**

**چی نموړی دثبات حدودات داوبو داندازی څخه عبارت دی کوم چه دخاوری کتله دهغی په زیاتوالی سره دیو حالت څخه بل حالت ته تغیرپری .**

**دخاوری دثبات یا مقاومت څلور حالته داختیار شوی ثبات حدوداتو سره ښودل شویدی .**

**کوم چی حدودات دانجینری مقاصدو لپاره ډیر زیات استعمال وړ دی .**




**مایع حد(liquid limit): مایع حد داوبو داندازی مطابق دمایع اوپلاستیکی حالت تر مینځ یو سیال حد دی.**

**دا پدی معنی ده چه داوبو هغه کمه اندازه چی خاوره دمایع په حالت کی لری دمګریو لږ څه دتوییدلو په مقابل کی مقاومت لری.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Plastic limit(پلاستیک حد): عبارت دی اوبو دهغی اندازی څخه چه خاوره پلاستیکی حد ځانته اختیاروی .**

**چی دخاوری ثبات ته او اختیاری حد ورکوی (Simi solid)حالت ترمینځ وی.**

**پاستیکی او لږجامد داسی تعریف شوی که چیری خاوره یو کمه اندازه اوبه ولری نو دی خاوری د لوله کولو په وخت کی تر3ملی متره قطر پوری ټوټه ټوټه کیږی یا ماتیږی .**

**دانقباض حد(Shrinkage limit): دانقباض حد په خاوره کی داوبو دهغه اعظمی مقدار څخه عبارت دی کوم چه دهغی په کمیدلو سره دخاوری دیو کتلی دحجم کمیدلو سبب کیږی .**

**یعنی دغه داوبو هغه کم مقدار دی چی خاوره یی کاملا مشبوع کړي دی .**

**پلاستیکی انډکس(plasticity index): دثبات هغه اندازه چه په هغه کی خاوره پلاستیکی خواص له ځانه ښائی عبارت دپلاستیکی اندازی څخه او پلاستیکیت انډکس دخاوری مایع او پلاستیکی حدونو تر مینځ توپیرڅخه عبارت دی .**

**IP=WLL-WP**

**دشګلنی خاوری په حالت کی پلاستیکی حد لومړی باید معلوم شی که چیری پلاستیکی حد معلومیدل ناممکن وی دپلاستیکیت انډکس راپور ورکول کیږی په کوم وخت کی چی پلاستیکی حد دمایع حد سره مساوی وی دپلاستیکیت انډکس صفر راپور ورګول کیږی.**

**پلاستیکیت(Plasticity): دخاوری هغه خاصیت ته ویل کیږی چه خاوره په تکراری توګه خپله بڼه تغیر کړی په غیر دچودنی او شکیدلو ارتجاعی او په غیر دحجم کمیدو څخه نظر د پلاستیکیت دخاوری دنازکو ذرو دموجودیت داثره وی کوم چی هغوی په واسطه کی الکترومقناطیسی چارجونه انتقالوی د اوبو مالیکولونه دوه قطبه لری او دکوچنیو مقناطیسو غوندی په مقناطیسی ساحه کی دخاوری ذراتو دسطحی سره نژدی (نښتی)موقیعت نیسی.**

**د ذراتو سره نژدی اوبه ډیر زیات سریښناکه کیږی مګر کله چی فاصله زیاته شی اوبه موجودی شی کله چه په کافی اندازه اوبه موجود وی دخاوری ذرات جلاکیږی او یو نوع حالت ځانته غوره کوی په غیر لدی څه چی خپل پخوانی حالت ته وګرځی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## جغل (Aggregate):

جغل دسرک دساختمان اساسی موادو دجملی څخه شمیرل کیږی چه دسرک 90% مواد تشکیلوی دجغل خواص مربوط دهغی تیږی نوعیت پوری کوم چه جغل ورڅخه تهیه شوی وی .

همدارنګه دسیند دجغل څخه چه بنویه سطحه لری اود رسوبی تیږی دجملی څخه دی هم استفاده کیږی .

جغل دمقاومت له لیحاظه په دوه کټګوریو تقسیم بندی شوی .

۱- سخت جغل (Hard aggregate) : هغه جغل دی چه دTarp او Granite تیږو څخه لاسته راځی چه دسرک په وسطی او پورتنی طبقاتو کی ورڅخه استفاده کیږی .

۲- نرم جغل (maorum) کنکر(Conakry) شیل(Shale) او د خښتی دټوټو څخه لاس ته راځی چه په سرک کی ډیر کم استعمالیږی او یا داچه دسرک په لاندی طبقاتو کی ورڅخه استفاده کیږی دجغل د دانو سایز(Grain Size) په اساس درجه بندی مشخص کیږی .

دجغل درجه بندی دغلبیل پواسطه صورت نیسی جغل باید پاک (clear)سخت(hard) قوی(tough) او با داومه (Durable)وی .

معمولآ په سرکونو کی دزاویه دار جغل (Angular shaped) څخه استفاده کیږی .

## دسرک لپاره دښه جغل خصوصات (Favoerable properties of road aggregate)

۱- مقاومت (Strenth): دعراده جاتو وزنونه چه دسرک دپاسه تګ او راتګ کوی دفشار دتولید سبب ګرځي چه په ټولو دسرک په طبقو باندی تاثیرکوی جغل او هغه ټول مواد چی په سرک تری استفاده کیږی باید دفشار په مقابل کی مقاومت وکړی .

۲- سختی (Hardness): هغه جغل چی په سرک تری استفاده کیږی باید دسولیدنی په مقابل کی مقاوم وی په هغه وخت کی چی عراده جات دسرک دپاسه تګ او راتګ کوی یو دبل سره د سولیدنی له وجی ماتیږی .

۳- سفتی (Toughness): نرم او ضعیف جغل دعراده جاتو دوزن په مقابل کی ضربی خوری او دزنځیری تایرونو په مقابل کی دکم مقاومت لرونکی دی نو بنآجغل باید دپورتینو عواملو په مقابل کی مقاوم وی چی دا خصوصات دجغل دسفتي په نوم یادیږی یا په بل عبارت دتصادفی قوو په مقابل کی دجغل مقاومت دجغل دسفتی په نوم یادیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- کیمیاوی او فزیکی مقاومت(Soundness): هغه جغل چه په سرک کی تری استفاده کیږی باید دحرارت د درجی په مقابل (باران،واوره) کی کافی اندازه مقاومت ولری .

۵- دوام (Durability):

۶- ددانو سایز او شکل ( Shape , Size) جغل په دوام او استکاک کی ډیر زیات عمده رول لری معمولآ جغل په لاندی شکلونو ویشل کیږی .

۱- گردجغل (Round Gravel) ۲- مکعب شکله جغل (cubic shape gravel) ۳- زاویه دار جغل ( Anguler gravel) چی دانوعه جغل په قیر سرکونو کی تری استفاده کیږی .

۴- هموار جغل ( Plata and elongated gravel):

چی د دی رقم جغل مقاومت کم دی اوپه سرک جوړولو کی تری استفاده نه کیږی .

دسرک لپاره دجغل تستونه (Tests for road aggregate):

۱- دسولیدو ازمایش(Abrasion Test)

۲- دسختی لپاره ازمایش (los Angeles test)

۳- د ماتیدو په مقابل کی د مقاومت لپاره (Crushing test)

۴- داستکام او تراکم کیدو لپاره (Impact test)

۵- ددوام لپاره ( Soundness test)

۶- دمخصوصه وزن دلاسته راوړلو لپاره ( Specific Gravity test)

۷- داوبو جزبولو قابلیت ( water absorption)

۸- د قیر سره دیو ځای کیدو لپاره (Bitumen adhesion test)

۹- دشکل دمعلومولو لپاره (Shape test)

## ۱- د توږنی (سولونی) ازمایښت

څرنګه چه هغه تیږی دسرک دسطحی پوښښ په طبقه کی استعمالیږی دترافیکی وسایطو امدګی دسولیدلو دعمل سره مخامخ کیږی نو باید داتیږی دسولیدلو په مقابل کی هم کافی مقاومت ولری دسولیدلو ازمایښ دلاس انجلیس دمیتود په کومک په لاندی توګه ترسره کیږی .

دمیده تیږو مقدار(5-10)kgr پوری نظر دهغی درجه بندی یا Gradation ته په ماشین کی اینبودل کیږی نوموړی مقدار (30-33) دقیقو پوری دورانونه ورکول کیږی دا دورانونه نظر دتیږو درجه بندی ماشین (Gradation machine) ته تعینیږی خو معمولآ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(500-1000) دورانونه په حدود کی وی ددی نه وروسته دغه تیږی د IS 117mm دغلبیل څخه تیریږی اوبیا هغه دمیده تیږو چی دغلبیل نه تیریږی وزن ئی اخیستل کیږی او قیمت ئی دلاندی فرمول په کومک پیداکیږی .

$$Abrasion\ test = \frac{w2}{w1} \times 100$$

د تیږو دسولیدو ازمایش دکانګریټي سړکونو لپاره باید 16% دقیر دسړکونو د پوښښ طبقی لپاره 30% او دتحتانی طبقاتو لپاره تر 50% پوری مجازی دی .

## 2- دسختی لپاره ازمايښت ( los angeles test):

نموړی تست دجغل ددانو دسولیدو د فیصدی دمعلومولو لپاره اجرا کیږی او دماشین په واسطه چه (Los Angeles Abrasion Testing Machine) په نوم یادیږی اجراکیږی .

نموړی ماشین یو سلندرچه داخلی قطر 70cmدی او داخلی طول ئی 50cm لرونکی وی او داوفقی محور په شاوخواء دوران کوی او دسلندر په داخل کی څودانی فولادی توپونه چه قطر 4,8cm او وزن ئی (339-445gr) دی تشکیل شوی.

طرزالعمل :

دجغل نمونه (5-10)kg په اندازه دسلندر په داخل کی اچول کیږی همدازنګه فولادی توپونه هم اچول کیږی اودی ماشین ته (500-1000) دوران ورکول کیږی .

وروسته نمونه دماشین څخه ایستل کیږی او د 1,7mm غلبیل څخه تیریږی او دتیر شوو موادو فیصدی لاسته راوړل کیږی چه دغه فیصدی دلاس انجلس په نوم یادیږی .

په دی ترتیب هغه جغل چه په قیر ریزی کی اورڅخه استفاده کیږی نو lose angelese ضریب ئي باید 30% او دکانګریټ ریزی لپاره 16% وی .

$$\text{Los angeles sufficient} = \frac{\text{weight of passing from sive}}{\text{Total weight}} \times 100$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 3- دجغل دماتیدو ټسټ (Aggregate crushing Test):

نموړی ټسټ دجغل دفشار مقاومت دپیدا کولو په منظور اجرا کیږی .

او دهغه ماشین په واسطه چه **Compression testing machine** په نوم یادیږی صورت نیسی.

طرزالعمل : دجغل نمونه چه سایز **2,54cm** وی او مکعبی شکل ولری دپورتنی ماشین په واسطه فشار کی مقاومت محاسبه کیږی چه باید فشاری مقاومت $700kg/cm^2$ څخه کم نه وی.

په **Crushing** ټسټ کی دجغل دماتیدنی فیصدی دفشاری قواو په مقابل کی محاسبه کیږی .

ددی ازمایش الات یوه استوانه چه داخلی قطر ئی **15,2cm** اوپه لاندی برخه کی یوهمواره چه **16mm** قطر او **60cm** طول لری تشکیلوی . وچ جغل چه **12,5mm** نمبر غربال څخه تیر اوپه **10mm** نمبر غلبیل کی باقی پاتی وی په اوستوانه کی په 3 طبقو **(layer)** کی اچول کیږی او هره طبقی ته 25 مرتبی دمیلی پواسطه ضربه واردیږی .




Figure 6.15 Aggregate Crushing Test Apparatus

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نموړی نمونه (sample) دفشار ماشین لاندی قرار ورکول کیږی اوپه 10mmکی 40 ton قوه په تدریجی ډول یعنی په هره دقیقه کی 40 ton بار واردیږی. وروسته نمونه د2,36 نمبر غلبیل څخه تیریږی او وزن ئی لاسته راوړل کیږی په دی ترتیب دماتیدنی فیصدی لاسته راځی .

$$\text{Aggrigate crushing value}=\frac{w2}{w1}\times 100$$

W2- دجغل دوزن دازمایش څخه وروسته چه د2,36 نمبر غلبیل څخه تیرشوی.

W1- دجغل دوزن مخکی دازمایش څخه په اوستوانه کی .

په هره اندازه چه دماتیدنی فیصدی زیاته وی نو جغل ضعیف او نرم دی هغه جغل چه دسرک دپورتنی طبقه (فرش)کی ورڅخه استفاده کیږی باید دنموړی فیصدی 45% څخه زیات نه وی.

## 4- دشکل بڼی تست (Shape Test):

دجغل دکتلی د ذراتو شکل په هغی کی دشته ذراتو اوږدوتوته شووذراتوپه فیصدی او زاویی درلودلو پوری اړه لری دجغل دشکل ارزیابی دتوته کیدو شاخص (flakiness index) په واسطه پیژندل کیږی په سرک دکاریدونکی جغل دتوته کیدو شاخص باید له 25% څخه زیات نشی خو معمولآ له 15% کم وی

## 5- دضربی ازمایش (impact test):

نموړی تست دسختی (toughness) دپیداکولو لپاره اجرا کیږی هغه ازمایش چی دمیده تیږو (Crushed stone) مقاومت دی د درزونو دپیداکیدو په مقابل کی چه دغه درزونه مکرر ضربی بارونو په نتیجه کی رامنځ ته کیږی د(Impact test) یا دضربی ازمایش په نوم یادیږی .

ددی سامان الات :

یو سلندر دوله ماشین چه 10,2cm قطراو 65cm ارتفاع لری.

طرزالعمل (Procidure):

دمیده تیږو نمونه چی IS 12,5mm غلبیل څخه تیریږی او په IS 10mm غلبیل کی پاتی کیږی په اوستوانه ډوله اندازه کوونکی لوخی کی اچول کیږی البته په دری مساوی طبقاتو کی چه په هره طبقه 25ځلی دتپک کوونکی راډ ډندی (Tamping) په ذریعه تپک کیږی .

او د 38cm ارتفاع څخه یو فولادی چکش چه (13,5-14kg) وزن لری ضربه واردیږی بعد 14 ضرو څخه نمونه دماشین څخه ایستل کیږی او د 2,36 نمبر غلبیل څخه تیر او دفیصدی محاسبه کیږی .

$$\text{Impact value}=\frac{w2}{w1}\times 100$$

W1- دموادو اصلی وزن مخکی دازمایښت څخه.

W2- دهغه موادو وزن چی دازمایښت نه وروسته د2,36 نمبر غلبیل څخه تیر شوی وزن چه په هره اندازه چه Impact ضریب کم وی نو دجغل دسرک دسطحی طبقی لپاره ضریب %(20-30) او تحتانی اندازی طبقی لپاره 45% څخه زیات نشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 6- داوبو دجزب او مخصوصه وزن ټسټ

**(Specific Gravity and water Absorption test)**

تجروبو ښودلی ده چی هغه تیږی چه مخصوصه وزن ئی زیات وی نسبت هغو تیږو ته چه مخصوصه وزن ئی کم وی قوی او محکمی وی .

په همدی ډول هغه تیږی چی داوبو دجزبیدو کم قابلیت ولری نسبت هغو تیږو ته چی داوبو دجزبیدو زیات قابلیت ولری محکمی او قوی ګڼل کیږی .

دمخصوصه وزن داوبو دجزبیدو ازمایش په لاندی توګه تشریح کیږی دوچو تیږو نمونه تقریباً 2kg وزن لری په یوی تاری ټوکری کی د24ساعتونو لپاره په اوبو کی ایښودل کیږی بیا نمونه په اوبو کی وزن کیږی وروسته نمونه داوبو نه ویستل کیږی او بیائی د وچیدو نه وروسته وزن کیږی وروسته بیا نموړی نمونه په داش کی د 24 ساعتونو لپاره د$C^{O}$(100-110) حرارت درجی لاندی وچیږی او بیائی وچ وزن پیداکیږی مخصوصه وزن ئی دوچی خاوری او دابو وزن چه عین حجم لری دنسبت څخه پیداکیږی.

$$w=\frac{G}{V}$$

مخصوصه وزن w= Specific weight($T/m^3$)

دخاوری وزن G= weight of ton

حجم V= volume of $m^3$

صحرائی تیږو مخصوصه وزن/T(2,6-2,9)$m^3$ پوری وی .

هغه تیږی چه مخصوصه وزن ئی $0,6T/m^3$ وی معمولاً دسرکسازی لپاره نامناسبی ګڼل کیږی.

## قیر (Bitumen)

دقیر څخه ډیر پخوا زمانو څخه دسرکسازي لپاره استفاده کیږي چه نوموړي ماده داوبو ضد نفوذ مادي په حیث پیژندل شوي او ورڅخه استفاده کیږي .

دقیر ابتدائي منبع حوضونه او جهیلونه دي مګر اصلي منبع یي خام تیل دي چه دبحري حیواناتو ( مړشوي ) دتجزیي څخه لاس ته راځي .

همدارنګه عضوي مواد دکیمیاوي تغیراتو له اثره په هایدروکاربن تبدیل او باالاخره خامه تیل منځته راځي . څرنګه چه قیر یو قوي چسپنده ماده ده او هم داوبو غیر قابل نفوذ خاصیت لري بناء په سرکسازی کي ډیر زیات استعمالیږي اوپه مایع ، ګاز، جامد اونیمه جامد شکلو نو پیدا کیږي .

قیر عبارت دهایدروکاربن موادو څخه دی چه په طبیعي شکل په حوضونواو جهیلونو کي او دطبیعي ذخایرو په نتیجه کي لاسته راځي چه طبیعي قیر لوي منبع په وینزویلا کي دي .

دقیر ترکیبي اجزاء په لاندي ډول دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دقيرو ترکيبی اجزاوی:

1. Asphalt – دکوچنيو ذراتو څخه عبارت چه د Resins په نوم مادي پواسطه پوشش شوی.
2. Resins - دغليظي مادي څخه عبارت دی چه قير ته چسپنده او ارتجاعي خاصيت ورکوي.
3. تيل Oil – دقير غلظت کنترول کوي يعني هر څومره چه دتيل مقدار زيات وي قير ,
4. Asphalt – هغه ماده چه قير دکوم منرال سره مخلوط شوي وي.

## دقيری موادونوعی (Type of Bituminou):

کوم قيری موادچه په سرک کی استعماليږی په عمومی صورت په دوه ډوله دي 1-- قير (Bitumen)

2-تار (Tar)

1.قير:- مونږه په لاندی ګروپونوويشو پطروليم قير (Petroleum Asphalt) ،قير(Bitumen) اوطبعی قير (Native Asphalt) باندی ويشل شويدی طبعی قير په خالص اوپه نيمه خالص شکلل پيداګيږی .

طبعی قير يو څه اندازه منرالي موادولري د(Rock Asphalt) په نوم ياديږی.

2.تار :- دايوه غليظه ماده داچه دطبعی عضوی موادلکه لرګی،زغال په غياب کی دهوا تقطير صورت نيسی په لاس راځی .

تارپه پنځه درجوباندی ويشل کيږی RT5,RT4,RT3,RT2,RT1 په هره اندازه چی درجه لوړيږی په همغه اندازه تار غليظ کيږی .

## دقير اودتارترمنځ تفاوتونه :

1- قيردخام تيل په نتيجه کی رامنځته ګيږی اوتاردطبعی عضوی موادودتقطير په نتيجه کی لکه دلرګی اودسکاره ډيروداستحصال نه ګيږی .

2-قيرداوبه په موجوديت کی چسپش نه کوي اوتارداوبوپه موجوديت کی قوي چسپش توليدوي.

3- قيرزياتره په سرک سازی استعماليږی اوتار په بامونوپوشش کی استعماليږی.

4- قيرنظرتارته زر سخت ګيږی .

5- قير نسبت تارته ارزانه دی.

نظر پورتنيو تفاوتونوته مونږه په سرک سازی کی قيرنه استفاده کوو.

## املشن قير (Bitumen Emulsion) :

کله چی قير،اوبه اوصابون دمخصوصوژرندوپه واسطه په پوډرباندی بدليږی بياوروسته دمخلوط کونکی ماشين په واسطه ګډوډيږی چی لاسته راغلی مخلوط ته املشن قير (Bitumen Emulsion) په نوم ياديږی په دی ترګيب کی (40-60)%قير (1-5)%صابون او باقيمانده اوبه په کی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی قیر نه هغه وخت استفاده کووکله چه باران وي مګرعادي قیرنه په دی وخت کی استفاده نه کیږي.

### دقیر خواستني (Requirements of bitumen ) :

د قیر مطلوبه خصوصیات د هغې دمخلوط په نوعیت او د سرک په اعمار پوري اړه لري .

دقیر مخلوطول په سر ک جوړونی کی لاندي مشکلات لري .

### دقیر ګډوډول (Mixing) :

دمخلوط مطلوبه محکمیت او ثبات لاس ته راوړل

**(Attainment of desired stability of the mix).**

په ډیرو بدو او نا مساعدو جوي حالاتو کی مقاومت او محکمیت ساتل **(To maintain the stability under adverse weather conditions).**

په کافي اندازه ارتجاعیت درلودل : مخنیوی د قیری سطحي ماتیدنی څخه **(To maintain sufficient flexibility and thus avoid cracking of bituminous surfaces).**

د جغلوسره داوبو په موجودیت کی ښه چسپش خاصیت **(To have sufficient adhesion with the aggregate in the mix in presence of water).**

نظر پورتهمشکلاتو ته قیر باید لاندی غوښتني پوره کړي :

د مخلوطولو او تیک کاری په وخت کی د قیر لزجیت **(Viscosity).**

دګرمولو سره مخکي له دینه چی مخلوط شي اویا هم د ایملیشن په استعمال سره کیدلای شي چی رفع شي .

1. قیري مواد باید د حرارت د لوړي درجي په مقابل کی زیات حساسیت ونلری. په دي معنی چی په ډیر ګرم اقلیم کی قیر باید ډیر نرم نه شی تر څو وبهیږی اویا هم په ډیره سړه منطقه کی منقبض نه شي ترڅو دهغي د ماتیدنی باعث ونه ګرځي .
2. داوبو په موجودیت کی هم قیر باید د اګریګیټ سره کافی چسپش ولري .

## دقیر تستونه(Tests on bitumen):

قیر په مختلفو انواعو او درجو سره په بازار کي عرضه کیږي بناء دجنسیت او اطمینان په خاطر باید لاندي تستونه اجراء شي .

1. داخلیدو تست( **Penetration T**)
2. دارتجاعیت تست(**Ductility T**)
3. دغلظت تست( **Viscosity T**)
4. دنرمیدو دنقطي تست(**Softening T**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. دمخصوصه وزن تست(Specific Gravity T)

6. دمتصل کیدو تست(Flash Point T)

7. دحرارت له اثره ضایع کیدل(Loss on Heating T)

8.دمنحل کیدو تست(Stability T)

9.داوبو موجودیت تست(Water content T)

10.دپایداری تست(Marshal T)

11. دچسپش تست (Bitumen AdhesionT)

## د قیرودننویستل تست(Penetration Test):

**نوموړی ازمایش دقیر دنرموالی او سختوالی دمعلومولو لپاره استعمالیږي او دیوي آلي په واسطه چه Pentameters په نوم یادیږي استفاده کیږي.**

**نوموړي دیو مخصوص ستني اویو ګیچ چه دننه کیدو اندازه معلوموي متشکل دی Penetration - دستني ددنه کیدو ځخه عبارت دی چه 100gr وزن اوپه هغه قیر کي چه دحرارت درجه 25C0 وي د 5sec لپاره په عمودي ډول د ملي متر 1/10 ژوروالي ننوځی تعینیږي ، او Penetration اندازه mm سره اخستل کیږ ي.**

**طرز العمل:**

**یو مقدار قیر په یو قطی کي اچول کیږي او حرارت ورکول کیږي او دمیل په واسطه حرکت ورکول کیږي ترڅو نرم شي وروسته نوموړي قطی داوبو په یو ظرف کي چه 25C0 حرارت ولري دیو ساعت لپاره ایښودل کیږي ترڅو دقیر دحرارت درجه 25C0 شي . وروسته نوموړي قیر د Penetration کیږي او د 5sec ثانیو ځخه وروسته دننه کیدو اندازه قرات کیږي. نوموړي عملیه دقیر دعملیي لپاره3 مرتبي تکراریږي البته د 1cm په اندازه یو دبل ځخه لیري باید اجراء شي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library




ستنه دهر مرتبي څخه وروسته دبنزين په واسطه پاک او وچ کيږي او په دي ترتيب د 3 واړو اوسط لاس ته راځي.




Penetration Test Concept

(c) ketabton.com: The Digital Library

قيرد **Penetration** مختلفي درجي لري مثلا $\frac{80}{100}$ دقير درجه ( $\frac{80}{100}$ ) اود قير درجه $\frac{30}{40}$ په يخ مناطقو کي $\frac{80}{100}$ درجي (80-100) څخه استفاده کيږي او په ګرم مناطقو کي قير درجه $\frac{30}{40}$ (30-40) څخه استفاده کيږي .

دابايد په ياد ولرو چی هرڅومره د قير ننوتلو اندازه ډيره وي په همغه اندازه قير نرم وي . دابايد په يخو منطقوکي استعمال شي .

## دارتجاعيت ټست(Ductility test):

په قيری سرکونوکی د وسايطو دحرکت او وزن له اثره تغير شکل منځته راځي چه دهغي دوباره اولي حالت ته راتلل دارتجاعيت پوري اړه لري .

د ارتجاعي سرکونو په جوړولو کی چيرته چی قير د نښلوونکی مادي په حيث استعمالیږی ضروري ده چی نښلوونکي ماده دتيرو چاپيره ديوه نری پردي په شکل ځای ونيسي دا ډول پرده د تيرو ترمنځ ښه چسپش پيدا کوي .

څرنګه چی د قيری سرکونو سطحه دوراني او درندو ترافيکی وسايطو بارونو د عمل لاندي واقع کيږي نو که چيرته قير په کافي اندازه ارتجاعيت ونه لري نو په دي صورت کی دسرک په سطحه کی درزونه رامنځته کيږي.

طرز العمل :

قير په يو ظرف کي اچول کيږي او حرارت ورکول کيږي ترڅو نرم شي وروسته په يو قالب کي اچول کيږي او قالب ديو پليت دپاسه چه د **Brass** څخه جوړ شوي قرار ورکول کيږي اوپه ازاد هواکي سړيږي.

قالب په اوبو کي چه (25-27C0) حرارت ولري ايښودل کيږي، قالب داوبو څخه ايستل کيږي او هغه سطح دچاقو پواسطه هموار کيږي. او دوباره په اوبو کي (85-90) دقيقو لپاره ايښودل کيږي .

وروسته دقالب څخه نمونه اخستل کيږي اود مخصوص ماشين لاندي قرار ورکول کيږي او ماشين صفر کيږي وروسته نمونه $5\, {cm}/{min}$ په سرعت سره کش کيږي او دقير د کشش اندازه د شکست په وخت کي اندازه دقير دارتجاعيت دضريب په نوم ياديږي. چه نوموړی ضريب (5-100cm) پوري وي .

هغه قير چه په سرک کي ورڅخه استفاده کيږي دارتجاعيت ضريب بايد (50)cm څخه کم نه وي دنمونی عرضانی نقطه بايد $(10\times10)\,mm$ وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




Fig. 15'8. Ductility test.

### د قیرودغلظت (لزجیت) ټسټ(Viscosity test):

لزجیت دقیر د هغه خاصیت څخه عبارت دی چی دبهیدو په مقابل کي مقاومت کوی دقیر دمخلوط په جوړلو کی د لزجیت (غلظت) کم وی او زیات والی دواړه دقیر دمخلوط محکمیت او ثبات متاثره کوي دقیر غلظت د یو مخصوص آلی پواسطه چه Viscometer په نوم یادیږي معلومیږي .




Float test.

مایع قیر (Cutback Bitumen) د Viscometer په داخل کي اچول کیږي چه په لاندني برخه کي یو معین سوری (1cm) قطر لري دثانیو تعداد چه دسوري څخه 60ml قیر په لاندني ظرف کي توئیږي محاسبه کوو چه په دي ترتیب دقیر غلظت لاس ته راځي .

دقیر غلظت ددي لپاره چي دسرک د فرش (Pavement) لپاره دمواد یو ځای کول Mix لپاره مختلف غلظتونه وجود لري او دمحاسبي له مخي تعین کیږي.

که چیري غلظت کم اویا زیات وی نو دکمپکشن په وخت کي مشکلات رامنځته کیږي.

### دقیر دنرمش دنقطي ټسټ(Softening Point test):

هرڅومره چه دقیر دنرمش نقطه زیات وي په هماغه اندازه زیات حرارت برداشت کولي شي او په ګرم مناطقو کي ددي نوع قیرڅخه استفاده کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنرمش نقطه د Ring T او Ball test پواسطه پیدا کیږي ددي تست لپاره سامان آلات دو برنجي استوانی (Bracing) چه داخلي قطر 1.59cm او عمق ئي 0.64cm او دوه عدده توپونه (فولادي) یا Steel Balls چه قطر ئي 0.95cm دی تشکیلوي .

طرزالعمل :

قیر په برنجي ظرف کي (استوانه) اچول کیږي او فولادي توپونه هم علاوه کیږي او نوموړي ظرف په اوبو کي ایښودل کیږي او حرارت ورکول کیږي ترڅو فولادي توپونه دقیر دپورتني برخي څخه لاندي خواته داخل او ځان سره یو مقدار قیر هم ښکته کړي (2.54cm) چه په دي وخت کي دحرارت درجه دترمامیتر پواسطه یاداشت کیږي چه دغه دحرارت درجه دنرمش دنقطي څخه عبارت دی .

دقیر دنرمش چه په سرکسازی کي استعمالیږي C0(35-70) پوري تعین کیږي.

دمخصوص وزن ازمایښت (Specific gravity test):

دخالص قیر مخصوس وزن (1.03-1.06) او Tar مخصوص وزن (1.10-1.25) دی .

## دحرارت دضایع کیدو تست (Loss on heating test):

کله چه قیر ته حرارت ورکول یو مقدار موادتبخیر کیږي چه دتبخیر شوي موادو فیصدي دقیر ناخالص والي ښیي.

دتبخیر شوي موادو فیصد چه په سرکسازي کي ورڅخه استفاده کیږي بایدد 1% څخه زیات نه وي .

یوازي هغه قیر لپاره چه Penetration ئي (200—150) پوري وي تر 2% پوري مجاز دی.

طرز العمل:

د 50gr په حدود کي دقیر نمونه وزن او د 5 ساعتونو په مده کي تر 163C0 حرارت ورکول کیږي او د 5 ساعتونو څخه وروسته بیا هم وزن کیږي او تبخیر شوي موادو فیصدي محاسبه کیږي.

## دمنحل کیدو تست(Solubility test):

خالص قیر په ($CSo_2$) او $CCl_3$ کي په مکمل ډول منحل کیږي. دقیر دخالص والي او ناخالص والي دتشخیص لپاره ددي تست څخه استفاده کیږي .

د 2gr په حدود کي دقیرنمونه او 1.00gr یا (100mm(100ml کاربن دای سلفاید یا کاربن تترا کلوراید یو دبل سره یو ځای (منحل) او فلتریشن کیږي ، مواد چه دفلتر دپاسه پاتي کیږي دوچولو څخه وروسته وزن کیږي او د غیر منحل موادو فیصدي لاس ته راوړل کیږي .

چه غیر منحل موادو فیصدي باید د 1% څخه کم وي. دغیر منحل موادو د Cut back Bitumen (کټ بیک) قیر مخصوصه وزن په هغي کی د رقیق لرونکی موادو ( تیل او اوبه) دمقدار له مخي تغیر کوي .

دکټ بیک قیر(Cut back Bitumen):

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرته د بیتومینی لزجیت (Viscosity) د رقیقي لرونکی موادو لکه تیل وغیره په ذریعه کم کړای شی نو دی ډول قیر ته د (Cut back bitumen) ویل کیږي .

کله چی (Cut back) بیتومین مخلوط د سرک دسطحی پوشش په طبقه کی استعمال شی نو د وخت په تیریدو سره رقیق کوونکی مواد تبخیریږي او د قیر د نښلیدو قابلیت لوړیږي.

(Cut back) قیر په دري قسمو پیدا کیږي:

1. ژر کلکیدونکی Rapid curing (R.C)
2. وسطی کلکیدونکی Medium curing (M.C)
3. قراره کلکیدونکی Slow curing (S.C)

دپورته تستونو څخه لاندی نتایج په لاس راخی

| sub grade | | |
|---|---|---|
| Teste | percentage | materieal |
| CBR | 5% | soil |
| Liquid limite | 40% | soil |
| plastic limite | 38% | soil |
| optimum moisture content | 12% | soil |

| base course | | |
|---|---|---|
| Teste | percentage | materieal |
| CBR | 80% | |
| Liquid limite | <25% | |
| shringkage limite | <3% | |
| impact test | 40% | |
| compaction | 98% | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| wearing course | | |
|---|---|---|
| Teste | percentage | materieal |
| penetration | 85% | |
| ductility | 105cm | |
| specific gravity | 2.3 | |
| softening point | 200c | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم فصل

## دسرک دساختماني اجزاء ډیزاین

## Design of Highway Pavement

### تعریف (Introduction) :-

دسرک ډولونه دهغو ساده ساختمانی اجزاوو له نظره په عمومی توګه په دوه ډوله دی .

1. ارتجاعی سرکونه Flexible Pavement
2. سخت سرکونه Rigid Pavement

1. ارتجاعی سرکونه:

عبارت دهغه سرکونو څخه دی چی ډیر کم مقاومت لری او معمولاً د اسفالت او یا د قیر او جغل دمخلوط څخه جوړیږی دا سرک د څلور طبقاتو څخه عبارت دی .

دسرک ساختماني اجزاء عبارت دي له :

1. دبستر طبقه Soil sub grade
2. لاندني فرعي طبقه Sub base Course
3. لاندنی طبقه Base Course
4. پورتنی سطحه (فرش) Wearing Course

سخت سرکونه:-

دهغه سرکونو څخه عبارت دی چی په کافی اندازه سخت او مقاومت درلودونکی وی دسخت سرکونو پورتلنډ سیمنټ کانکریټ څخه جوړیږی او معمولاً ددری طبقاتو یعنی

1. دسرک دسطحی پوشش
2. تحتانی طبقه
3. دبستر طبقه

دارتجاعی او سخت سرکونو ترمنځ تفاوت په لاندی ډول دی .

1. ارتجاعی سرکونه عمودی فشاری قواوی لاندینی طبقاتو ته دساختمانی موادو د ذراتو تماس د نقاطو په کومک دیوه ذري نه بلی ذری ته انتقالوی . مګر په سختو سرکونو کی بارونه د کانکریتی سلب په کومک په یوه پراخه برخه تقسیمیږی.
2. د ډیر زیات بار لرونکو وسایطو دټایرونو د بار دعمل په صورت کی ارتجاعی سرکونه بیدون د درزونو پیدا کیدو تغیر الشکل کوی په داسی حال کی چه سخت سرکونه پرته د کړیدو د تغیر شکل څخه زیات بارونه متحمل کوي .
3. دحرارت در جی تغیر په (قیر) باندي کومه خاصه اغیزه نلری مګر په سختو سرکونو کی دحرارت درجی لوړیدل ددرزونو پیدا کیدو احتمال زیاتوی.
4. په ارتجاعی سرکونو کی (Sub base course) طبقه وجود لري په داسی حال کی په سختو سرکونو کی دا طبقه وجود نلري .

### سرک ساختمان (Road structure)

دسرک ساختمان لاندینی طبقاتو څخه تشکیل کیږي .

### دبستر طبقه (Sub grade)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبستر دطبقی خاوره یا دپرکاری دخاوری ځځه چه ښه تپک کاری (Compacted) شوي وی تشکیل کیږي .

لکه څرنګه چی دا طبقه دپورتنی طبقاتو لپاره دتهداب وظیفه اجرا کوی نو په همدی وجه دپورتنی طبقاتو طبقي ضخامت دبستر دطبقی دخاوری په نوعیت او خواصو پوری مربوطیږي .

دا خبره ډیره ضروری ده چی د بستر د طبقی خا وره په هیڅ صورت (Overset reseed) نه شی یعنی په دی معنه د بستر دطبقی دپاسه وارده فشار دمجازی اندازی ځځه تجاوز ونکړی.

$\delta P \leq [\delta P]$

$[\delta P]$ مجازی فشار

$\delta P$ ـ د بستر د طبقی دپاسه وارده فشار (محاسبوی فشار) دسرک دبستر طبقی لپاره ښه خاوره هغه ده چی په هغی کی (Sand) شګه ، (Clay) مټه خاوره او Silt .

دری واړه معین مقدار موجود وی ددی د موادو تناسب باید په لاندي ډول وی :

**Sand – (70-85) %**

**Silt – (10-20) %**

**Clay – (2-12) %**

## تحتانی او فرعی تحتانی طبقه (Base and sub base course)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا طبقات معمولاً د میده تیږو څخه جوړیږي بعضی وخت تحتانی طبقه د تپک شوی خاوری څخه هم استفاده کیږي. تحتانی او فرعی تحتانی طبقی دنرم سرکونو په صورت کی د هغوی د برداشت د وړتیا دزیاتوالی لپاره چی کولای شی بارونه په پراخه ساحه تقسیم کړی جوړیږي .

دسرک دسطحی دپوشش طبقه ( Surface Course)

دسرک دسطحی پوشش طبقه د سرکونو دنوعیت له مخی د مختلفو موادو څخه جوړیږي چی سختو سرکونو کی سطحی طبقه دکانکریتو او په ارتجاعی سرکونو کی دقیر او جغل دمخلوط څخه جوړیږي .

دسرک د سطحی پوشش طبقه باید همواره او غیر قابل نفوذ خاصیت ولری او هم باید د وسایطو دټایرونو د فشار په مقابل کی کافی مقاومت ولری.

## دډیزاین فکتورونه Design factors

هغه فکتورونه چه دسرک په ډیزاین کی په نظر کی نیول کیږي چه په دوه برخو ویشل شوی دی:

a) دسرک دمختلفو طبقاتو د ضخامت محاسبه .
اونور مختلف فکتورنه د سرک په ډیزاین کی نیول کیږي چی عبارت دي له :

a) د ټایر دبار محاسبه. b) دبستر د طبقی محاسبه.

e) محیطی شرایط Environment factors

(c) ketabton.com: The Digital Library

**f) دبعضو په سرکونو کی خصوصی عوامل: - Special factor in the design of different type of pavement.**

1. دعراده جاتو وزن **Design wheel load**
2. دبستر دطبقي مقاومت **Sub grade soil**
3. جوي شرايط **Climate factors**
4. دسرک دطبقاتو مواد **Pavement component materials**

**a – دعراده جاتو وزن Design wheel load**

دسرک دطبقاتو ضخامت مستقیماً د ټایرونو د ډیزاین بار پوری مربوطیږی . واضح خبره ده چی د زیاتو بارونو په صورت کی دسرک مجموعی ضخامت هماغه اندازه باید زیات انتخاب شي .

دافغانستان دفوايد عامي وزارت له طرفه دسرکونو لپاره اعظمي لود ديو اکسل لپاره **12Ton** سفارش کړی دی چه په دی اساس ديوی پائي (تاير) وزن **6Ton** اعظمي په نظر کي نيول کيږي .

همدارنګه دفشار تماس **Contact pressure** دا رنګه لاس ته راځي چه دپايی وزن دتاير د تماس په مساحت ويشل کيږي .

$$P=\frac{N}{NA}=\frac{600Kg}{25\times 40}=6\,{}^{Kg}\!/_{cm^2}\,\langle 7\,{}^{Kg}\!/_{cm^2}$$

**b- د بستر طبقه:-**

دبستر دطبقی خاوره د امتحان څخه وروسته که چيري دهغی خاوره ضعيفه پاتی شي نو چی دباقيمانده پورتنی طبقاتو ضخامت ونيول شی اوبرعکس که چيری د بستر د طبقی خاوره کمه وي نوبايد دپورتنی طبقات ضخامت په همغه تناسب کم ونيول شي.

**c- جوی شرايط:-**

دسرکونو په ډيزاين کی دساحی ګرموالی او يخوالی ډير رول لري چی د هغی له مخی دقير قيمت تعينيږي.

په يخو منطقو کي هغه قير چی دسړی هوا په مقابل کي مقاومت ولري استعماليږي .

په دي ډول په ګرمو مناطقو کي هغه قير چه دګرمی هوا په مقابل کی مقاومت ولی استعماليږی دزير زمينی اوبو له مخی لوړوالی او دهغی تاثر د بستر په طبقه باندي هم مطالعه کيږی او ګرمی په موسم کی دهغی مقاومت ديخنيو په مقابل کی په نظر کي نيول کيږي .

**d- دسرک دطبقاتو مواد:-**

